# د یووالي بنسټیزه لار او
# د اسلامي امت د یووالي پلي کول

لیکوال:
**مرحوم شیخ محمد آصف محسني**

# د يووالي بنسټيزه لار او
# د اسلامي امت د يووالي پلي کول

ليکوال:

**مرحوم شيخ محمد آصف محسني**

## د کتاب ځانګړنې:

د کتاب نوم: د یو والي بنسټیزه لار او د اسلامي امت د یووالي پلې کول.
مؤلف: محمد آصف محسني قندهاري
د چاپ کال: ۱۳۹۰
د چاپ شمېر: ۲۰۰۰ ټوکه

بسم الله الرحمن الرحيم

# لومړۍ برخه:

# د يووالي بنسټيزه لار

بسم الله الرحمن الرحيم

الحمد لله وکفی والصلاة علی عباده الذین اصطفی لا سیما علی خاتمهم المصطفی و علی اله النجباء و اصحابه الا صفیا.

ټول زړه سواندي مومنین د نړۍ د مسلمانانو یووالی غواړي او له شخړو او اختلافاتو څخه سر ټکوي. ځینو په دې لاره کې ستر ګامونه ګاللي او عقیده لري، چې اوسمهال مسلمانان باید باعظمته ژوند ولري؛ نو ددې موخې د سر ته رسولو لپاره لومړی با ید د خپل پخواني عظمت د منځه تللو لاملونه وڅېړي، چې یو له دې لاملونو څخه د نړۍ د مسلمانانو یووالی دی.

د یووالي معنی دا نه ده، چې د ډلو او وګړیو په منځ کې دې هیڅ ډول فکري اختلاف نه وي. او مونږ باید پردې وسوسې ځان ککړ نه کړو، چې د اسلام د دین د لارویانو په منځ کې ټول فکري اختلافونه له منځه یوسو، چې دا کار نا شونی دی او زمونږ ټول زحمتونه به توی شوي وي او ټاکلې موخې ته به هم و نه رسیږو او وضعه به لاپسې کړکېچنه شي.

د یووالي معنی داده، چې په لومړي پړاو کې فکرونه او نظرونه په سمه توګه څرګند شي او هغه ټکي، چې مسلمانان پرې یوه خوله وي وپېژندل شي او د امکان تر حده، د لوریو په منځ کې

تېروتنې له منځه لاړې او له موهومو اختلافاتو څخه مخنيوی وشي.
په دويم پړاو کې په ګډو ټکيو کې يو له بل سره د زړه له کومي نه او په اخلاص سره ګډ کار وشي او د اختلافي ټکيو په هکله دې دواړه لورې د يو بل د ګروهو درناوې وکړي او يو بل دې نه سپکوي.
ممکن يو عالم پر يو مطلب ګروهمن نه وي او کېدای شي هغه باطل وګڼي؛ خو کولای شي پر همدې مطلب ګروهمن معذور وګڼي او په دې توګه د هغوی د عقيدې له سپکاوی څخه مخنيوی وکړي. که مونږ دې دوو موضوع ګانو ته پاملرنه وکړو؛ نو کولای شو، چې خپلې روستۍ موخې ته ورنږدې شو، چې د مسلمانانو يووالی دی. دا ليکنه د همدې نادودې د درملنې لپاره راوړاندې شوې، چې په لومړي پړاو کې د شيعه او سني په منځ کې ګډ ټکي، په دقيقه توګه بيان کړي او په دويم پړاو کې اختلافي مسائل له نيمګړتياوو پرته روښانه کړي او هغه وخت به زړه سواندي مسلمانان پوه شي، چې اوسنۍ تربګنۍ او شخړې تولې بې بنسته او دروغ وې او جرړه يې مذهب نه؛ بلکې ناپوهي او د پرديو خاينانه لاسوهنه ده. ددې ليکنې څېړونکی له

خدای څخه غواړي، چې دې موخې ته په رسېدو کې يې لاسنيوی وکړي او دا ليکنه دې د مسلمانانو د يووالي وزله وګرځوي.
بايد ووايو، چې دا ليکنه تر اوسه درې ځلې د کتاب په بڼه په دري ژبه چاپ شوې او يو ځل پر ۱۳۷۲ل په هېواد ورځپاڼې کې هم خپره شوې ده. او مونږ د ځينو په غوښتنه اود اوسنيو نازکو شرايطو په پام کې نيوو سره دادی د هغه پښتو ژباړه درنو مينوالو ته وړاندې کوو.

انه دائم الفضل قديم الاحسان

کابل دخاتم النبيين (صلى الله عليه و آله) علميه حوزه

۱۳۸۶د وري مياشت د پيغمبر اکرم بختوره زوکړه ( ۱۲ – ۱۷ ربيع الاول )

محمد آصف محسني

# سریزه

په عمومي توګه د نړۍ د مسلمانانو په منځ کې اختلافونه په څلورو برخو ویشل شوي، چې دادي:

۱= نژادي، لکه سامي، اریایي او. . . .

۲= سیاسي، لکه افغاني، ایراني، پاکستاني، مصری او. . .

چې دې ته نیشنلیستي اختلاف وایو.

۳= قومي او قبیلوي اختلاف، چې په ډېرو اسلامي ټولنو کې تر سترګو کېږي.

٤= مذهبي، که پوهان په خپلو تبلیغاتو کې پر اسلامي روزنې لنګر واچوي؛ نو پورته لومړی او درېیم ډولونه د کابوکېدو وړ دي او تر ډېره یې مخنیوی کېدلې شي او تېرې تجربې د دې خبرې ګواه دي.

د دویم عامل د اواري لاره د غېر اسلامي او ضد اسلامي واکمنو حکومتونو د منځه وړلو لپاره مبارزه ده، چې ددې حکومتونو په شتون کې به مسلمانان هېڅ کله هم د نېکمرغۍ خاوندان نه شي. همدا حکومتونه د رادیو، تلویزیون، ورځپاڼو او مجلو له لارې نه د خپل پایښت او یا د نورو د ښکېلاک اوزېښاک د ګټو لپاره د مسلمانانو په منځ کې اختلافات اچوي. د اسلام یو

ملياردي ټولنه د اوسنيو څلوېښتو حکومتونو او هېوادنو شتون نه شي زغملې، چې په دې کې د ځينو هېوادونو نفوس يو ميليون ته هم نه رسېږي او دا اوسنى ويش د اسلام د دښمنانو يوه دسيسه ده.

اسلامي نړۍ بايد پر پينځو يا شپږو سترو هېوادونو او حکومتونوبدله شي او اوسني ټول کوچني هېوادونه په کې ادغام شي، چې مسلمانان نېکمرغۍ ته ورسېږي، څو چې ددې بدمرغيو پر جرړې (واکمن حکومتونه) بيا کتنه و نه شي؛ نو د اسلامي سمونپالوکړنې به توى لاړې شي.

د اسلامي نړۍ د اوسنيو ګڼو هېوادونو ناوړه اغېزې دادي:

۱- د سترو دولتونو په واسطه د هغوى زبېښل.

۲- سترو دولتونو خپلو ګاونډيو کوچنيو هېوادونو ته سترګې نيولي، چې تر خپلې ولکې لاندې يې ونيسي.

۳- مسلمانان چې د يو بل ديني ورونه دي په ناڅرګندو نومونو يې په هغوى کې کښې اچولي دي.

۴- د رغنده ځواکونو له ګډو هلو ځلو څخه مخنيوى اوپه پايله کې د اسلامي نړۍ روسته پاتې کېدل.

٥- په ځينو کوچنيو هېوادونو کې د شتمنيو راټوليدل او د هغوی د اولسونو د اخلاقو فاسدوالی او د نورو اسلامي هېوادونو بېوزله پـاتې کېـدل لکـه بنګلـه ديـش، افغانسـتان او ځينـې افريقـايي هېوادونه. په داسې حل کې، چې د اسلامي هېوادونـو شتمني د نړۍ د ټولو مسلمانانو حق دی، چې بايد عادلانه وويشل شي.
هـو! د اسـلامي نـړۍ د تيلـو ځاګـانې او کانونـه يـوازې د ځينـو هېوادونونه؛ بلکې د نړۍ د ټولو مسلمانانو حق دی.
٦- د وګړنيو، ټولنيزو او سياسي ازاديو له منځه تلل.
٧- په اسلامي ټولنو کې د فاسـدو، نـااهلو، بې کفايـته او ظـالمو حکومتونو رامنځ ته کېدل.
٨- پـه دولتونـو او سـفارتخونو او د دولـت پـه بې ځايـه اداري جوړښتونو کې د شتمنيو لګول او ددې په ځای، چې پر اسلامي چارو ولګېږي د وسلوپر پېرودلو يي لګوي.
٩- مسلمانان پر ستونزو اخته شول لکه پاسپورت، درانده ماليـات او داسې نور.
١٠- په ناځرګنده نومونـو د مسـلمانانو تـرمنځ جګـړې رامـنځ تـه کول، چې په بيا بيا يې وينـو. (ان هـذه امـتکم امـه واحـده و انـا ربکم فاتقون)

د څلورم ډول سمونه له پخوا راهیسې د ژمنو پوهانو د پام وړ وه اوددې لیکنې یو لامل همدا دی او هیلمن یو، چې اسلامي امت د وینې څښوونکیو بهرنیانو او د لبر نالوستو ځانمنواو ځېلي واکمنو له شره خوندي شي. پردې سربېره مونږ د اسلامي امت د یووالي پلي کول په نامه یوه لیکنه خپره کړې وه چې دا دی اوس ددې امت د جوړېدو پر لارو چارو د پوهېدو لپاره دا لیکنه لوستونکیو ته وړاندې کوو.

## لومړی څپرکی

# په اسلام کې د مذهبونو جوړه

ټول پوهیږي، چې د اسلام دین د قرآن او د حضرت پیغمبر اکرم (صلی الله علیه و اله) پر سنتو ولاړ دی او د عقایدو، اخلاقو، سیاست، اقتصاد، ټولنې او عباداتو اصلي سرچینه همدا دوه څیزونه دي او مسلمانان هم له استثناء پرته کتاب او سنت مني؛ نو اختلاف په څه کې دی؟

**د مسلمانانو په منځ کې اختلاف دوه جوړې لري:**

لومړی اختلاف د حضرت پیغمبر اکرم (صلی الله علیه و اله) له رحلت روسته د هغه د ځایناستي په هکله دی. ځینې وايي، چې حضرت پیغمبر اکرم (صلی الله علیه و اله) په دې اړه کوم ځانګړی کس نه دی ښودلی او دا چارې یې د مسلمانانو پر غاړه اچولي او له همدې امله اصحابو په بیړه د بني ساعده وپه څپرګې "سقیفه" کې راټول شول او یو تن یې د خلیفه او واکمن په حیث وټاکه. ځینې معتقد دي حضرت پیغمبر اکرم (صلی

الله علیه و اله) خپل ځایناستی او وصي خلکو ته ورپېژندلی و او باید د هغه له غوښ حکمه سرغړونه ونه شي.

دا اختلاف په هغه وخت کې څرنگه ارزول کېده؟ په دې هکله دقیق معلومات نه لرو[1]؟؛ خو دې کار روسته پراخه اړخونه پیدا کړل او په اسلامي ټولنه کې په خورا خطرناکې بڼې راښکاره شو، چې ناوړه اغېزې یې تر ننه پورې تر سترگو کېږي او له همدې ځایه په اسلام کې د تشیع او تسنن په نومو دوه بېل جریانونه راپیدا شول.

دویم اختلاف دا دی، چې له قرآن او سنتو څخه باید مسلمانانو گټه اخیستې وای اوله هغه نه یې استنباط کړی وای او البته له دې دوو څخه د اسلامي عالمانوپوهېدنه یو شانته نه وه او هرې ډلې د خپلې پوهې او استعداد له مخې له قرآن او سنتو څخه استفهام او گټه پورته کوله او په دې ترتیب د عقایدو په فروعو او فقه کې اختلاف رامنځ ته شو او اسلامي مذهبونه راپیدا شول.

---

[1] بخاري په صحیح کې له ام المومنین عایشې بي بي څخه روایت کوي، چې حضرت علي (ک) تر شپږو میاشتو پورې له لومړي خلیفه حضرت ابوبکر (رض) سره بیعت و نه کړ او د بي بي فاطمې له مړینې روسته یې د خلکو په ټینگار بیعت ته غاړه کېښوده.

د سنتو د اثبات ستونزه هم مطرح ده. د مثال په توګه یوه موضوع، چې په یو روایت کې راغلې وي، ځینو پوهانو ته به په اثبات رسېدله او عمل به یې پرې واجب ګاڼه؛ خو همدا حدیث نورو پوهانو ته نه دی ورسېدلی اوکه رسېدلی وي؛ نوپه معتبره طریقه به ورته نه و رسېدلی، چې په دې توګه یې هغه ته حجت نه درلود او عمل پرې ونه شو. دلته درېیمګړې لامل هم باید په پام کې ونیسو او هغه د هغه وخت د سیاسي او ټولنیزو عواملو په پام کې نیولو سره د پوهانو بشري احساسات او عواطف دي. زمونږ استنباط کوونکي پوهان انسانان وو، چې هغوی نه شوایي سل په سلو کې له انساني عواطفو او احساساتو څخه لرې وګڼو. هو! له قرآن او سنتو څخه د استنباط او همدارنګه د هغه وخت د سیاسي او ټولنیزو شرایطو په پام کې نیولو سره د پوهانو د بشري احساساتو او عواطفو له امله بېلابېل مذاهب منځ ته راغلي، چې دا چار نه باید غیر طبیعي او د تعجب وړ وګڼل شي؛ ځکه چې دا دوه پدېدې (فکري توپیر، احساسات او د چاپیریال اغېزه) د بشر په ژوند کې وی او وي به. او دا د غیر معصوم بشر د طبیعت ځانګړنه ده؛ خو څه چې کړکېچ یې زیات

کړی او د وینـې تویـدېنې او بدمرغۍ لامـل شوي، دوه نـورې لاسوهنې دي، چې دادي:

لـومړی دعـامو خلکـو او د عـالم، پـیر، مر شد او مـلا پـه نامـه د مـذهبي مشرـانو بې ځایـه تعصـبات دي، چـې وړو مـذهبي اختلافاتو ته یي لمن وهلې شخړې، تربګنۍ او کورنۍ نښتې یې رامنځ ته کړي او د مسلمانانو ژوند یې تریخ کړی دی. البته کـه د تعصب معنی له مذهب سره مینه وي؛ نو کوم باک نه لري او د مخنیوي وړ هم دی؛ خـو کـه معنـی یـې لـه نـورو مـذهبونو سره دښمني وي؛ نو بیا به خطرناک وي. د دې تعصبونو لاملونـه دوه دي: لومړی لامـل یـې د خلکـو نـا پـوهي، نـاوړه ګټـه اخسـتنه، ځانمني او پر نا خبره خلکو واکمني ده.

دویم لامل یې د خلکو د ښکېلاک او زبېښاک په موخه د سترو هېوادونو لاسوهنه ده، چې د ولسونو ترمنځ بې اتفاقي پیدا کـوي او د یو ملت د ننني لیکې کمزورې کوي او له مذهبي اختلافاتو څخه هم ګټه اخلي. دې دوو [تعصبونو او د دولتونو لاسـوهنو] نه یواځې دمذاهبو ترمنځ په درز پیدا کولو بسیاو نـه کـړه؛ بلکـې پـر دروغـوو او تورونـو یـې هـم لاس پـورې کـړ او بې خـبره مسلمانان یې له یوبل سره پـر جنـګ واچـول. مـونږ یـې دلـته د

اسنادو له راوړلو څخه تېرېږو او په دې هکله ډېرې ناوړې اوازې هم خپرې شوي دي د مثال په توګه، وايي چې د پلاني مـذهب لارويان لکۍ لري اويا د هغه بل مذهب لارويان په خپلـو مړيـو کې لرګي منډي، د پلاني مذهب لارويان د قرآن د حفـظ وړتيـا نه لري د پلاني مذهب لارويانو ته سپکې سپورې او کنځـل روا ګڼي، چې له دې ټولو څخه د څلورو مذهبونو او د شيعه مذهب لارويان په بشپړه توګه پاک دي. له نواصبو پرته ټول اهل سـنت د پيغمبر اکرم له اهل بيتو سره مينه لـري او لـه غاليـانو پرتـه ټـول اهل تشيع دا صحابو کرامو درناوی کوي.

## دویم څپرکی

## د شیعه او سني ګډ ټکي

شیعه اوسني په لاندې مسایلو کې یوه خوله دي:

**(الف):- په عقایدو کې:**

١- نړی خدای پیدا کړې ده.

٢-معبود یوازې الله تعا لی دی او له هغه پر ته د بل چا عبادت کول شرک دی او مسلمان پرې له اسلامه ووځي.

٣-خدای شریک نه لري.

٤- د خدای ذات د درک وړ نه دی.

٥- خدای ازلي، ابدي او تل تر تله دی.

٦خدای، عالم، قادر، مرید، مختار، سمیع، بصیر او پر ټولو څیزونو پوه دی.

٧- ټول څیزونه خدای پیدا کړي دي.

٨- خدای ژوندی دی.

۹- خدای، متکلم او صادق دی.

۱۰- خدای له اجزاوو څخه جوړ شوی نه دی.

۱۱- خدای جسم او جسماني نه دی.[۲]

۱۲- خدای د پېښو ځای نه دی.

۱۳-خدای له خپلو مخلوقاتو سره ګډ نه دی؛ بلکې وجود یې د موجوداتو له وجود څخه بېل دی.

۱۴- خدای په هېڅ شي کې نه حل کېږي.

۱۵- خدای له خپل ځانه پرته بې نیازه او غني دی.

۱۶- ټول مخلوقات خدای ته اړین دي.

۱۷- په قرآن او سنتو کې، چې خدای په کوم ډول ښودل شوی؛ نو دا سمه ده.

۱۸- عرش، کرسي او لوح محفوظ حق دي.

۱۹-ملائکې او هغه کتابونه، چې له اسمان څخه پر پیغمبرانو او په تېره بیا قرآن مجید، چې پر روستي پیغمبر حضرت محمد(صلی الله علیه و اله) نازل شوي رښتیني ګڼو.

---

[۲] له شیعه و څخه پرته یو شمېر د خدای پر جسمیت قایل دي.

۲۰- پـر انبیاووعلیـه السـلام وحـي حـق ده او د حضرـت پیغمـبر اکرم (صلی الله علیه و اله) له مړینې روسته وحي بنده شوې ده.
۲۱- قرآن د خـدای کـلام دی او عمـل پـرې لازم دی او نبـوي سنت پر مسلمانانو په هر وخت کې حجت دي.
۲۲- اسلام نړیوال دین دی او د دنیا تر پایه پورې به الهـي دیـن شمېرل کېږي او له اسلام پرته نور ټول ادیـان منسـوخ او د عمـل کولو وړ نه دي. [ان الدین عند الله الاسلام]
۲۳- خدای پر خپلو بندګانو تېری نه کوي.
۲٤- خدای د انسانانو د لارښوونې لپاره پاک او سـپېڅلي کسـان غوره کړي او ورته یې د نبوت مقام ورکړی او د خلکو لپاره یـې رسولان او انبیاء (علیهم السـلام) رالیـږلي او اسـماني شرایـع یـې پرې نازل کړي دي.
۲۵- خدای ته دنږدېوالي او مقام له کبله ټول انبیـاء یـو شانته نـه دي، ځینې پر ځینو نورو غوره دي [تلک الرسل فضـلنا بعضـهم علی بعض]
۲٦- [ لا نفرق بین احد من رسله ] ټول پیغمبران (علیهم السلام) د درناوۍ وړ دي.

۲۷- ځيني پيغمبران اولی العزم دي[۳].

۲۸- د وخت په تېريدو سره د اسلام په شريعت کې هيڅ ډول بدلون نه شي راتلای اود څه په باب، چې اسلام حکم کړی بايد تر ابده پرې ټينګ ودرېږو.

۲۹- د قيامت د ورځې سوال او جواب او د عملونو تلل ټول حق دي او انسانان به په دې ورځ راپاڅېږي.

۳۰- معاد يوازې روحاني نه؛ بلکې جسماني هم دی.

۳۱- مؤمنينو ته تلپاتې جنت دی اوکينه کښو کفارو ته هم تلپاتې دوزخ دی.

۳۲- په قرآن او سنتو کې د دوزخ د عذابونو او د جنت د نعمتونو په باب، چې څه ويل شوي ټول پر حق دي.

۳۳- برزخي نړۍ حق ده.

۳۴- شفاعت سم دی.

---

[۳] د اماميه و په عقيده اولی العزمه پيغمبران دغه پنځه تنه دي: (حضرت نوح، حضرت ابراهيم، حضرت موسی، حضرت عيسی او حضرت محمد عليهم السلام)، چې دا ټول له نورو پيغمبرانو څخه غوره دي؛ خو په اهل سنتو کې په دې هکله اختلاف دی.

۳۵- په قرآن او سنتو کې، چې د برزخي نړی په باب ځه معلومات راغلي ټول یې مني.
۳٦- له قیامت څخه منکر، مسلمان نه بلل کیږي.
۳۷- د مسلمان ځان او مال محترم دی او پرې تېری جایز نه دی.
۳۸- د شهادت پر کلمه [توحید او رسالت] اقرار او اعتراف کول لازم دی اود پیغمبر اکرم (صلی الله علیه و اله) راوړي ځیزونه سم او رښتیا ګڼل.
۳۹-پر خدای، استازیو، پرښتو او اسماني کتابونو ایمان لرل لازم دي.
٤٠- خدای ژوندي کول کوي او مړه کول کوي او هر ځوک ټاکلې نېټه لري او خدای روزي ورکوونکی دی.
٤١- د انبیاوو معجزات حق دي او همدارنګه د اولیاوو کرامات هم.
٤٢- قرآن کریم د پیغمبر اکرم (صلی الله علیه و اله) تلپاتې معجزه ده او هېڅ ډول کموالی او زیاتوالی په کې لاره نه ده پیدا کړې.

**(ب) په فروعو کې:**

۱- (اولس رکعته) لمونځ په څلورویشت ساعتونو کې پینځه وخته فرض دی.

دوه رکعته د سهار لمونځ دی، څلور رکعته د ماسپښین، څلور د مازیگر، درې رکعته د ماښام او څلور رکعته د ماسخوتن لمونځ دی؛ خو له پاکوالي او نورو شرایطو سره.

۲-په لمانځه کې قبله، کعبه ده، ځاروي مخ په کعبه حلالیږي او مړي هم مخ په کعبه ښخیږي.

۳- د مړي دجنازې لمونځ واجب دی.

٤- په هر کال کې د روژی په میاشت کې روژه نیول واجب دي.

۵- د مالونو زکات ورکول او د فطر زکات ورکول واجب دي.

٦- پر هر شتمن حج کول واجب دي.

۷- په غنیمتونو او ځینې نورو ځیزونو کې پنځمه (خمس) ورکول.

۸- د اسلام د دفاع او خپرولو لپاره جهاد واجب دی.

۹- پر نېکیو امر او له بدیو څخه منعې واجب ده.

۱۰- د مړي غسل، کفن او ښخول واجب دي.

۱۱- په سلام اخستلو او اچولو کې بیړه کول.

۱۲- دبل سپکاوی، کنځلې کول، غیبت، تورلګول، بل ته زیان رسول او بد ګومانونه منعې شوي دي.
۱۳- تېری، وژنه، ځان ښودنه او ریا او سود خوړل منعې شوي دي.
۱٤- زنا، لواط او د هغې ځینې سریزې منعې شوي دي.
۱۵- ښځې باید له نا محرمو څخه ستر وکړي.
۱٦- بیع، اجاره، مضاربه او دا شان نورې معاملې او راکړې ورکړې سمې دي.
۱۷- په واده کې د مېړه او ښځې د نکاح تړل او د طلاق له لارې نه د هغوی د نکاح ماتول او پر طلاقې د عدت پوره کول لازم دي.
۱۸- د دیات، قصاص او ضمانتونو د حدودو په باب د الهي حکمونو پلي کول.
**۱۹**- د قرآن او سنتو له مخې د میراث ویشل. او نور داسې په سلګونو واجبات، محرمات او وضعي احکام شته، چې حنفي

فقه او جعفري فقه پرې يوه خوله دي؛ خو دلته د بحث د اوږدوالي له کبله يې نه شو راوړلای[٤].

[٤] دژباړن يادونه: په دې باب دمحمدجواد مغنيه د پنځګونې فقهې کتاب ولولئ، چې په پښتو ژباړل شوی دی.

## د شیعه او سني ترمنځ اختلافي ټکي

دلته مونږ ددواړو مذاهبو ترمنځ بنسټیزو اختلافاتو ته اشاره کوو:
الحمدالله د شیعه او سني په منځ کې د اسلامي عقایدو په اصولو کې[5] اختلاف نه شته او یوازې د عقایدو په څو جزیې مسلو کې اختلاف شته او څه چې زما په ذهن کې دي دادي:

۱- د خدای د تکلم په تفسیر کې اختلاف.

۲- اختلاف په دې کې دی، چې د قیامت په ورځ به مومنین خدای ویني او که نه؟ اشاعره یې [د اهل سنتو اکثریت] پر لیدلو معتقد دي؛ خو شیعه او یو شمېر اهل سنت [معتزله او ځینې اشاعره لکه فرید وجدی د شلمې پیړۍ د دایرة المعارف په کتاب کې] او فیلسوفان نه یوازې د خدای په نه لیدو عقیده لري؛ بلکې هغه د عقل له مخې محال او ناشونې ګڼي.

---

[5] اسلامي اصول، چې ټول مسلمانان پرې یوه خوله دي او مخالف یې کافر بلل کیږي دا دي: توحید، نبوت، معاد. او کولای شو، چې د دین ضروریات هم پرې ورزیات کړو.

۳- د خدای ذاتي صفات لکه علم، قدرت، ژوند او د هغه مثالونه عين د خدای ذات دی او يا يې پر ذات ورزيات دی. شيعه لومړی نظر مني؛ خو اهل سنت په دې هکله اختلاف لري او اکثره اشاعره هغه د خدای پر ذات ورزيات بولي.
٤- دا په شيعه او سني کې مشهوره ده، چې په قرآن کې تحريف او اړونه نه ده شوې؛ يعنې سورتونه يې کم او ډېر شوي نه دي؛ خو ځينوچې شمېر يې ډېر لږ دی داسې خيال کړي، چې د قرآن ځينې ايتونه کم شوي او ددې خبرې اسناد هغه روايتونه بولي، چې د شيعه او سني په کتابونو کې را غلي دي؛ خو دا شان روايتونه د دواړو لوريو د عالمانو د پام وړ نه دي او پرخلاف يې ورته ځوابونه ورکړي دي. [وانا له لحافظون]
۵-کوم روايتونه، چې د معتبرو سندونو له لارې له حضرت پيغمبر (صلی الله عليه و اله) څخه روايت شوي دواړه لورې يې حجت بولي؛ خو د ځينو روايت کوونکيو په هکله د دواړو لوريو په عالمانو کې اختلاف شته، چې يو شمېر راويان رښتيني ګڼي اويو شمېر دروغجن يا مجهول بولي، چې دا اختلاف د اهل سنتو او شيعه و د رجالو د علم په عالمانو کې هم شته دی.

٦- ټول صحابه عادل دي دا د اهل سنتو خبره ده. او يا ځيني يې ښه او ځيني نور يې نا اهله دی، دا د شيعه و نظر دی. دايو کړکيچن او اوږد بحث دی.
٧-اهل سنت د حضرت پيغمبراکرم(صلی الله عليه و اله) ځايناستي د څلورګونو خلفاوو حق ګڼي او شيعه يې د پيغمبراکرم(صلی الله عليه و اله) د کورنۍ په دولس ګونو امامانوپو رې ځانګړې بولي
٨- د جبر او اختيار له پلوه اماميه شيعه انسان په خپلو کړنو کې مختار بولي او اشاعره (انساني) کړنې د خدای له لورې نه بولي، چې انسان يې يوازې کاسب دی.
٩- د اهل سنتو مشهور عالمان دا وايي: چې عام مسلمانان دی په فقهي مسائلو کې د څلورو مذهبونو [ ابو حنيفه، مالک بن انس، محمد بن ادريس او احمدبن حنبل، رحهم الله ] څخه لاروي وکړي په داسې حال کې، چې شيعه وايي د اهل بېتود دولس ګونوو امامانو له نظريو څخه بايد لاروي وشي؛ خو د اهل سنتو ځينې عالمان اسلامي مذهبونه يوازې په څلورو مذهبونوکې منحصراو راايسار نه ګڼي.

ځلورم څپرکی

## نهو اختلافي ټکیو ته دویمه کتنه

۱-لومړی ټکی دومره مهم نه دی؛ ځکه چې خدای ته دتکلم صفت بیخي ثا بت دی. او د معنی تفسیر یې ډېره جزیي او علمي خبره ده، چې دومره دپام وړ نه دی.
۲-دویم ټکی به قیامت ته پرېږدو په دې دنیا کې ټول دامني، چې خدای نه لیدل کیږي.
۳-دذاتي صفتونو عینیت او یا پر ذات باندې یې زیا توالې دا پوره علمي مسله ده، چې د عامو خلکو سر پرې نه خلاصیږي اود خلکو په منځ کې هم د تعصبونو او شخړو لامل نه ده ګرځېدلې؛ نو دا موضوع به د کلام په کتابونو کې پرېږدو او د نظر د خاوندانو د اجتهاد درناوی کوو.
٤-په ځلورم ټکی کې باید تعجب وکړو. د دواړو لوریو عالمان د قرآن اوړېدنه او تحریف نه مني او په دې هکله راغلي روایتونه هم نه مني او ټول په دې ټینګار کوي، چې نننې قرآن، د خدای قرآن دی او پرې ویاړو؛ خو ځینې ناپوهان او د غرض

خاوندان په دې تېنګار کوي، چې مقابل لوری د تحریف پر ګروهه تورن کړي او په دې هکله د یو عربي هېواد د سخت دریځو او افراطیانو ونډه ډېره نامناسبه ده. حتی ځیني ادعا کوي، چې د شیعه و قرآن دېرش سپارې نه،؛ بلکې څلوېښت سپارې دی. دا په رښتیا، چې د تعجب خبره ده. د شیعه مسلمانانو په کورنو کې د قرآن کریم نسخې شته او په مختلفو اسلامي هېوادونو لکه عراق، ایران او لبنان کې چاپ شوي او زه قسم خورم، چې یو شیعه به هم لاتر اوسه پورې د څلوېښتو سپارو قرآن نه وي لیدلې[6]؛ خو د دروغو او تورونو بازار لاهماغسې تود دی. او ځیني لاتر اوسه پورې له همدې لارې نه د خلکو په سترګو کې خاورې اچوي اوهغوی غولوي؛ نو باید د مسلمانانو پر بدمرغۍ اوښکې توی کړو. ویښ او پوه مسلمانان باید له دې نه عبرت واخلي، چې دروغجن څرنګه موهومي اختلافاتو ته لمن وهي او خلک پرې بوختوي. او دوی دا ستر خیانت یا د تعصب له مخې او یا هم د پیسو لپاره تر سره کوي ایا پر زړه

[6] هره ورځ په ګڼو جوماتونو کې د قرآن ژباړه او تفسیر کېږي، په فاتحو کې ویل کېږي او په سل ګونو فقهي، اخلاقي او تاریخي کتابونو کې پرې استدلال او استشهادکېږي.

سواندو پوهانو اړینه نه ده، چې ددې دین پلورونکیو هڅې وتړي.

۵-د پنځم ټکي په هکله باید ووایم، چې اهل سنتو خپل روایتونه په صحاح سته او نورو کې راټول کړي او شیعه و له اهل بیتو څخه په اربعه او نورو کتابونو کې راټول کړي دي. او هره ډله دبلې ډلې پر طریقه عمل نه کوي او د فقهي اختلافونو غټ علت همدادی. څه چې دلته ویلای شو هغه دا دي، چې دا څرگند اختلاف یوازې درروایتونو په اسنادو او د هغوی په طریقه کې دي او دا کار په خپله په روایتونو پورې نه؛ بلکې د رجالو په علم پورې اړه لري؛ داځکه چې په روایتونو کې اختلاف ډېر نه؛ بلکې لږ دی. ډېر مطالب اهل سنتو درخپلو راویانو له لارې نه له اصحابو څخه، له حضرت پیغمبراکرم(صلی الله علیه و اله) څخه روایت کړي دي، چې شیعه همدا مطالب درخپلو راویانو له لارې نه د اهل بیتو له امامانوڅخه روایت کړي دي.

دا به څومره غوره وي چې یوه ډله عالمان د شیعه اوسني قریب المعانی[نږدې معنا لرونکي] روایتونه راټول کړي، چې دابه ډېر زیات روایتونه وي.؛ نو پردې باید ونه غولېږو، چې د شیعه او سني روایتي کتابونه د راټولېدو وړ نه دی او اختلاف په کې ډېر

دی. او دې ته موپام وي، چې د روایت په سند کې اختلاف درروایت د معنی له اختلاف سره یو نه دی او مهم هم دا دویم ټکي دی، چې په کې دومره اختلاف نه شته یا په بله وینا خپله د روایتونو په معنی کې دومره ډېر اختلاف نه شته.

ما په ۱۳۵۵ل کې (په ژوند کې د دین گټې) په نامه یو کتاب ولیکه او په کابل کې د بیهقي موسسې له چاپ نه مخکې هغه یو ځل له سره ولید او ما په دې کتاب کې ډېر روایتونه د شیعه و له لارې نه له امام محمدباقر او امام جعفرصادق (علیهماالسلام) څخه روایت کړي وو، چې د بیهقي موسسې پر ما نیوکه وکړه، چې تاسې نبوي روایتونه له پیغمبراکرم (صلی الله علیه و اله) څخه نه؛ بلکې له امام محمدباقر او امام صادق څخه روایت کړي؛ نو زه په هغه وخت کې پوه شوم، چې د شیعه اوسني روایتونه څومره سره نږدې دي حتی دا، چې په الفاظو کې هم سره یو شانته دي. په پایله کې له بیهقي موسسې سره له سلامشورې روسته مې له اهل بیتو څخه راغلي روایتونو دیوې جملې په ورزیاتوالي سره ومنل: [امام جعفرصادق (دنبوي احادیثو په روایت) ویلي دي]، چې د اهل سنتو له روایتونو سره، چې په خپله طریقه یې له حضرت پیغمبراکرم (صلی الله علیه و

اله) څخه روایت کړي اړخ ولګوي، ماهم ورسره هغه جمله ومنله؛ ځکه چې پردې مګروهمن وم څه چې د اهل بیتو امامانو ویلي د پیغمبراکرم(صلی الله علیه و اله) له سنتو څخه یې ویلې دي. او په دې هکله امام صادق وایي: مونږ اهل رائ نه یو، څه چې وایو له خپلو پلرونو څخه یې وایو، چې هغوی هم له رسول الله څخه روایت کړي دي.

زه د مقارنې فقهې[۷] او د مقارنو حدیثونو په راټولو ټینګار کوم، چې دا چار د شیعه اوسني د یووالي بنسټ دی.

٦-شیرم ټکی د صحابه و(رض) عدالت دی، چې په اهل سنتو کې دا مسله څیړل شوی او ا بن ابي الحدید معتزلي دنهج البلاغې په شرحه کې په دلیلونو او شواهدو دا موضوع اوږده څیړلې ده او د اهل سنتو د عالمانو نظریات یې را اخستې دي.

---

[۷] مقارنه فقه لبناني مشهور عالم محمدجوادمغنیه لیکلې، چې په فارسي ژبه په ایران کې له څلورو ځلو نه زیاته چاپ شوې دغسې ددې کتاب پښتو ژباړه ارواښاد محمد انور ولید کړې، چې په پېښور کې چاپ شوی او ځینې برخې یې په ۱۳۸۲کال په هیواد ورځپاڼه کې هم خپرې شوي. همدارنګه د سني او شیعه د ګډو حدیثونو د راټولو او چاپ عملیه د اسلامي مذاهبو د پیوستون د نړیوال مرکز له لورې نه روانه ده.

یو شمېر ټول اصحاب عادل نه ګڼي؛ بلکې وايي، چې په اصحابو کې عدالت (یو) اصل دی (اصالة العدلة)؛ خو داچې دچا کړنې د عدالت پر خلاف ثابتې شي.

شیعه علما وايي: د صحابه و په عدالت ګڼلو کې لومړی باید د هر وګړي ژوند او کړنې وڅېړل شي او بیا دې قضاوت وشي. چې ما په (بحوث فی علم الرجال) کتاب کې په دې باب څرګندونې کړي.

د لومړنیو مهاجرینو لپاره د عدالت اصل له قرآن کریم څخه لاس ته راوړو. په دې اړه د ټولنیزې سمونې لاره داده، چې دواړه لورې له افراط او تفریط [غلو اوبد ژبی] څخه ډډه وکړي او مشهور اصحاب په درناوی یادکړي او باید چې یزید او د هغه په شان نور کسان له امام حسین (نه، چې د جنتي ځوانانو سباغلی دی) غوره و نه ګڼي. (وکذلک جعلنا کم امه وسطا)

سنیان باید د پیغمبر اکرم (صلی الله علیه و اله) له کورنۍ اوله دولس ګونو امامانو (علیهم السلام) سره بې مینې و نه سيي او کله چې د هغوی فضایل بیانیږي؛ نو خپګان دې نه څرګندوي. حتی نن هم وهابیان د هغوی په سپکاوی کې کتابونه لیکي لکه د الشیعه والسنه کتاب. په داسې حال کې، چې د اهل سنتو ټول

عالمان په یوه خوله او اجماع سره د پیغمبر اکرم(صلی الله علیه و اله) له اهل بیتو سره مینه واجب گڼي. ځینو د یزید، شمر اوداسې نورو په ملاتړ کې کتابونه لیکلي دي. ځینې وایي: حضرت حسین د خپل نیکه په توره ووژل شو (نعوذبالله منه).

شیعه گان باید په خلفاوو پسې بدرد و نه وایي، چې ددې عمل ناوړه اغېزه دا شوه، چې په مسلمانانو کې یې د کینې تخمونه وشیندل او د پردیو لاسوهنو ته هم لاره اواره شوه.

زه دلته شیعه گانو ته اعلان کوم، چې په خلفای را شدینو پسې بدرد ویل حرام دي او دا حکم یوازې زما نه؛ بلکې ډېر شمېر شیعه عالمان یې هم مني. د شیعه و بې خبره عوام باید دې ټکي ته پام وکړي، چې د شیعه و د فتوی گانو په کتابونو کې[8] په اصحابو پسې دبد رد ویلو اجازه نه ده ورکړل شوې؛ دا خو لا څه چې بد رد ویلو ته په کې ښه ویل شوي وي.

د تاریخي او عام بحثونو پایله، چې هر څه وي په دې باید پوه شو، چې د مسلمانانو خپلمنځي شخړې، کینې او وینې تو یېدنې او حتی د اسلام کمزوري کول، چې په هر نامه وي له کبیره محرماتو څخه گڼل کېږي او شیطان باید مسلمانان ونه

[8] (د مجتهدینو توضیح المسایل وگورئ)

غولوي. د مسلمانانو د یووالي غوره لاره داده، چې باید د یو بل د احساساتو له راپارونې څخه ډډه وکړي.
یو شیعه به هم د امام ابوحنیفه(رح) پر فتوی عمل و نه کړي او همدارنگه یو سني به هم د امام جعفرصادق(ع) پر نظر لاړ نه شي؛ خو د ملیونو مسلمانانو د مشرانو په توگه باید د امام جعفر صادق او د امام ابوحنیفه درناوی وشي او د اسلامي علمي شخصیتونو پر وړاندې بې اعتنایي و نه شي او نه ښایي، چې د یو بل احساسات ټکني شي، چې دا یو ناسم او د ناپوهۍ عمل دی[٩].
په اروپوهنه کې وایي: د اصل تر اغېز د وگړي اغېز ډېر دی. علمي اختلاف په اصل کې اختلاف دی، چې په کې شخړه او وینه تویدنه نه شته؛ خو د شخصیتونو په اړه اختلاف په وگړي کې اختلاف دی، چې کړکېچ زېږوي؛ نوځکه په دې باب باید ډېر ځیر او محتاط اوسو او د مذهبونو د مشرانو له سپکاوي نه باید په ټینگه ډډه وکړو، خدای په قرآن کې مسلمانانو ته حکم

---

[٩] په صحیح بخاري کې یو حدیث راغلی، چې وایي:که د مجتهد اجتهاد له واقع سره یو شان و؛ نو دوه اجره لري او که له واقع سره مخالف و؛ نو یو اجر لري او په هر حال مجتهدپه خپل صحیح اجتهادکې معذور دی.

کوي، چې د کفارو په خدایانو پسې بد رد مه وایئ، چې هغوی هم ستاسې خدای ته بدرد و نه وایي. ایا مسلمانانو ته پکار نه دي، چې له دې حکیمانه حکم څخه په خپلو دننیو چارو کې ګټه واخلي؟!

۷- د شیعه اوسني په منځ کې تر ټولو کړکیچن اختلاف د خلافت په هکله دی، چې د اسلام له لومړیو وختونو راهیسې دوام لري، چې ای کاشکې دوام یې نه وای موندلی او مسلمانان له دې اختلاف څخه ژغورل شوي وای.

اهل سنت وایي: پیغمبراکرم (صلی الله علیه و اله) کوم ځانګړې تن خپل وصي او ځایناستی نه دی ټاکلی، خلکو حضرت ابوبکر (رض) د خلیفه په توګه وټاکه او بیا یې درې تنه نور هم وټاکل او خلفای راشدین څلور تنه دي، چې غوره او افضل اصحاب دي.

شیعه معتقد دي، چې امامت د نبوت په شان د خدای له لوري نه انتصابي دی، نه داچې خلک یې وټاکي، حضرت علي (ک) د پیغمبراکرم (صلی الله علیه و اله) ځایناستی دی او په دې هکله له انحضرت (صلی الله علیه و اله) څخه ډېر نصوص راغلي او له

حضرت علي(ع) څخه روسته امامت د هغه یولس ځامنوته رسي، چې لاروي یې واجبه ده.

ددې لیکنې موخه د تاریخي او علمي بحثونو څېړل نه؛ بلکې ددواړو لوریو ترمنځ پخلاینه ده، چې شخړې او بدبینۍ راکمې او مسلمانان یو له بل سره رانږدې شي او په اختلافي چارو کې له مبالغې نه مخنیوي وشي.

لومړۍ خو داچې د اهل سنتو د عالمانو له نظره خلافت په اصولو کې نه؛ بلکې په فروعو کې شمېرل کېږي؛ نو ځکه په داسې چارو کې مخالف تن د تکفیر وړ نه دی. فرض کړئ، چې اختلاف نه اوارېدونکی دی او په یوې فرعي مسلې پورې اړه لري، چې باید په دې اړه له پراخې سینې نه کار واخستل شي. للمصیب اجران وللمخطی اجر واحد څوک، چې حقیقت ته ورسېد دوه اجره لري او چې تېروت؛ نو یو اجر لري او باید یو بل پړ و نه ګڼو.

دویم دا چې که له سترګو نه د تعصب پردې لرې کړو وینو، چې شیعه د خلفای راشدینو له خلافت نه انکار نه کوي او ټول پردې اعتراف کوي، چې د حضرت پیغمبراکرم(صلی الله علیه و اله) له رحلت روسته خلکو له حضرت ابوبکر (رض) سره بیعت وکړ

بیایې له دویم خلیفه سره روسته یې له دریم او بیایې له څلورم خلیفه سره بیعت وکړ، چې له بیخه دایو څرګند تاریخي واقعیت دی او انکار ترې نه شي کېدلای.

اهل سنت خلافت الهي انتصابي مقام نه ګڼي، چې ګڼې د خدای له لورې نه دې څوک پر خلافت ټاکل شوی وي؛ نو ځکه د هغوی له نظره خلافت یو انتصابي مقام نه دی چې پردې مسله اختلاف پیدا شي؛ بلکې هغوی د خلکو پر بیعت اتکا کوي، چې له دې خبرې نه څوک منکر نه دی؛ نو ځکه شیعه ګان د سنیانو له دې مدعا څخه منکر شوي نه دي او نه به منکر شي؛ نو اهل سنت دې له دې اړخه اندېښمن نه وي. شیعه و ته هم وایم کوم نصوص، چې ستاسې د پام وړ دي، ښایي د اهل سنتو له نظره د دلالت له اړخه ناتمامه وګڼل شي؛ نو دا چې اهل سنت له اهل بیتو څخه لاروي نه کوي؛ نو پړه یې مه ګڼئ. ایا په عالمانو کې د نظر اختلاف نه شته؟ ناپوهه په دوه ډوله دی: قاصر او مقصر. په دې کې دویم د سزا وړ دي؛ خو لومړي د عقل او شرعې له پلوه پړ نه دي.

د خلافت له پېښې نه یو زر او څوسوه کاله تېر شوي او لا تر اوسه پورې عالمانو ته د حق د څېړنې لپاره لارې چارې په لاس

نه دي ورغلي (عوام خو لا پرېږده)؛ نو بايد بې ځايه تعصب و نه کړو، چې په عقيده کې خپل هر مخالف مقصر يا دښمن وګڼو اوو يې شړو. مونږ بايد مذهبي مخالفين له ځانه و نه شړو او خپل ورونه يې وګڼو او بايد تر اسلامي ضوابطو لاندې له يو بل سره ګډکار وکړو.

امامت د شيعه و له نظره د مذهب په اصولو کې شمېرل کېږي؛ خو نه د دين په اصولو کې؛ يعنې له امامانو (عليهم السلام) څخه منکر د شيعه له مذهب څخه وځي نه د اسلام له دين څخه.

سنيانو ته وايم که ستاسې له نظره له اهل بيتو څخه لاروي نه ده ثابته شوې مونږ کومه خبره نه لرو؛ خو شيعه، چې له اهل بيتو څخه لاروي پر ځان واجب ګڼي، هغوی پړه مه ګڼئ. شيعه په دې هکله پر هغو روايتونو استدلال کوي، چې ستاسې له لارې نه راغلي او ددې روايتونو اسناد او دلالت بشپړ او پوره ګڼي؛ نو که دوی پر حقه لاره تللي وي؛ نو تاسې د حقيقت مخالفت مه کوئ او که تېروتي وي؛ نو د دښمنۍ او بېلتون وړ يې مه بولئ. که د مجتهد اجتهاد له واقع سره يو شان و؛ نو دوه اجره لري او که له واقع سره مخالف و؛ نو يو اجر لري، چې بالاخره د دواړو لوريو موخه له پيغمبراکرم (صلی الله عليه و اله) څخه لاروي ده،

چې اهل سنت د صحابه و کرامو او شیعه د اهل بیتو له لارې نه په انحضرت (صلی الله علیه و اله) پسې روان دي.

فکر کوم که منطق او انصاف ته مخه کړو پورتني مطالب تر ډېره حده د تعصب او شخړو دورې له منځه وړي او دواړه لوري سره رانږدې کوي او د اسلامي رورولۍ لپاره لاره اواروي البته که خدای مسلمانان د نالوستو ملایانو او د پردیو لاسوهنو له شره خوندي وساتي.

۸-که د اتم ټکي په هکله " د اسلامي توحید او وهابیت ته کتنې " کتاب ولولئ، چې دا موضوع په کې اوږده څېړل شوی، په دې کتاب کې راغلي: " د انسانانو د کړنو په باب، چې اشاعره پر کوم تفسیر عقیده لري که دلته خوش ذوقي وکارول شي له هغه اختیار سره به اړخ ولگوي، چې امامیه پرې عقیده لري ".

۹-د نهم ټکي په هکله لاندې مطلب ته پاملرنه وکړئ: لومړی دا چې د مشهورو فقهي مذهبونو د انحصار په هکله کوم معتبر دلیل نه شته.

دویم داچې د اهل سنتو ځینو عالمانو هم په څرگنده فتوی ورکړې، چې له څلورگونو مذهبونو څخه د باندې اجتهاد هم سم دی.

دریېم داچې امـام جعفرصـادق (علیـه السـلام) د امـام ابوحنیفـه (رحمة الله) استاد و او علمي او معنوي مقام يې له امام ابوحنيفه (رح) څخـه ډېـر لـوړ و، او لـږ تـر لـږه خـو يـې علمـي مقـام د څلورګونو مذهبونو (له امامانو څخه) کم نه و؛ نو نه ښايي، چې اهل سنت له امام جعفر صادق څخه پر لاروی نیوکه وکړي.

شیعه ګان باید د حنفي فقهې درناوی وکړي او سنیان هم باید پر جعفري فقه اعتراف وکړي.

که سنیان د اهل بیتو پر فقه عمل نه کوي؛ نو شیعه دې تـرې نـه خپه کیږي؛ داځکه چې سنیانو ته د اهل بیتو له فقې نـه د لاروی اړتیا نه ده ثابته شوی.

اهل سنت پر څلور ګونو مذهبونو عمل کول جایز بولي، کولای شي د شیعه عمل هم سم وګڼي. د الازهر پخواني مشر اروابناد شیخ محمود شلتوت هـم دا شان فتوی ورکـړي وه او لـه هغـه څخه پوښتنه وشو، چې:

"ځیني خلك په دې عقیـده دي، د دې لپـاره، چـې عبادتونـه او معاملې يي سـمې سرتـه رسـولې وي؛ نـو د څلورګونـو مشـهورو مذهبونو له احکامو څخه باید لاروي وکـړي پـه دې څلورګونـو مذهبونو کې د امامیه شیعه او زیدیـه شیعه نـوم نـه دی اخسـتل

شوی. ایا تاسي دا نظر په پوره توگه منئ، چې له امامیه او زیدیه مذهبونو څخه لاروي له دین سره کوم ضدیت نه لري؟
ځواب: اسلام خپل لارویان یوازې له یو ځانگړي مذهب څخه پر لاروی نه دي اړکړي؛ بلکې هر مسلمان کولای شي، چې د هر مذهب له احکامو څخه، چې په سمه توگه روایت شوي وي لاروي وکړي او څوك، چې د دې څلورگونو مذهبونو لارویان وي، کولای شي بل مذهب ته هم واوړي. جعفری مذهب، چې د اثنی عشري امامي په مذهب مشهور دی د نورو اهل سنتو مذهبونو په شان ترې لاروي کول شرعا جایز دي؛ نو ځکه مسلمانان باید پردې حقیقت پوه شي او د یو ځانگړي مذهب پر وړاندې تعصب و نه کړي؛ دا ځکه د خدای دین او د هغه شریعت په یوه ځانگړي مذهب پورې نه دی تړل شوی او د یو ځانگړي مذهب په انحصار او احتکار کې به هم را نه شي. د ټولو مذهبونو خاوندان مجتهدین دي او اجتهاد یې د لوی خدای په در بار کې قبول دی. څوك چې د نظر او اجتهاد خاوندان نه دي؛ نو کولای شي له هر مذهب څخه تقلید او له فقهي احکامو څخه یې لاروي وکړي، په دې ځای کې د عبادتونو او معاملو په منځ کې کوم توپیر نه شته".

(د محمود شلتوت لاسليك)

دا تاريخي فتوی، چې د اسلام د دښمنانو ملاگانې يې ماتې کړې او د متعصبينو او ځيليانو خولې يې ورتپې کړې د ربيع الاول په اولسمه پر ١٣٧٨ س د قاهرې په ښار کې ورکړ شوه او د الازهر د شېخانو له خوا دا فتوی د تقريب بين مذاهب اسلامي سرمنشي سيدمحمد تقي قمي ته په رسمي توگه وسپارل شوه، چې د دارالتقريب په رسمي اسنادو کې يې خوندي کړي. موږ د داسې سترو عالمانو پر سپېڅلي روح درود وايو. ددې ليکنې د ليکلو پر مهال خبر شوم، چې د دارالتقريب هلې ځلې بيا په قاهره او سوريه کې پيل شوي او د الازهر محترم مشر او د تقريب نړيوالې ټولنې هم ورسره د ملاتړ ژمنه کړی ده. څه موده مخکې په اردن کې د څلوېښتو هېوادونو عالمانو يو پرېکړه ليک لاسليک کړ، چې په کې يې د اهل سنتو له څلورگونو مذهبونو پرته د شيعه و اماميه مذهب، زيديه مذهب او اباضيه مذهب يې هم له معتبرو اسلامي مذهبونو څخه وگڼل.

## ( ب ) فقهي فروعات

په ټولو انساني علومو کې د عالمانو په منځ کې د نظر اختلاف شته. د عالمانو فکرونه د هغوی د ځېرو په شان بېل بېل دي. همدا فکري اختلافات د علمي اختلافاتو لامل ګرځي او دا به هېڅ کله د بشر له ژوند څخه بېل نه شي. نه يـواځې دا، چې د شيعه او سني په منځ کې د فقهي مسائلو په هکله د نظر اختلاف شته، په خپله د سني عالمانو او حتی د نورو مذهبونو په منځ کې هم دا شان اختلاف شته د شيعه علماوو په منځ کې هم د نظر اختلاف شته. دا اختلافات به هېڅکله هم د يو بل د سپکاوۍ لامل نه شي؛ نو د شيعه او سني په منځ کې دا اختلاف ولې د دښمنۍ او لرېوالي لامل ګرځي ايا دا يو ډول کم عقلي نه ده؟ هر مسلمان بايد د خپلو ګروهنو، کړنو او سلوک لپاره شرعي حجت ولري؛ خو د حجت په تشخيص کې بايد ځېل او تعصب و نه کار ول شي. دا سمه ده، چې پر نېکيو امر او له بديو نه منعې واجب دي؛ خو په ليکنو او ويناوو کې بايد اخلاقې نزاکتونه په پام کې ونيسو، چې يو د بل د احساساتو د راپارولو او د دښمنۍ د پيدا کېدو لامل نه شي. د خپل مذهب د اثبات لپاره کولای شو، چې کتابونه وليکو؛ خو بايد په ليکنو کې

احتیاط وکړو، چې د دښمنۍ او تاوتریخوالي لامل نه شي. په اسلام کې د فتوی اختلاف مشروعیت لري او ټول عالمان یې دیو څرګند او نه انکارېدونکي واقعیت په توګه پېژني؛ خو شراچوونکي اختلاف خلکو ته لانجمن ښېي، چې مخه یې باید ونیول شي.

## پینځم څپرکی

# قضاوت

و مو لیدل، چې شیعه او سني د اسلام د دین پـه اصـولو کـې او همدارنګه د عقایدو په ډېره برخه کې یوه خوله دي او یوازې په نهو ټکیو کې اختلاف لري، چې مونږ ورته د جوړجاړي وړاندیز هم وکړ؛ نو ځکه له ناپوهی، غـرور او د حکومتونـو لـه سیاسـت څخه پرته د دښمنی، تعصب او ددې دوو ډلو د لرېوالي بل هېڅ لامل نه تر سترګو کېږي او د بېلابېلو مذهبونو مسـلمانان د قرآن په حکم له یوبل سره ورونه دي. (انما المومنـون اخـوه) مومنـان یو د بل دوسـتان دي (بعضـهم اولیـا بعـض). دلته د مسـلمانانو دیووالي په هکله دوه نور عوامل هم څېړو، چې دادي:

لومړی داچې د اسلام دښمنانو د اسلام د کمزورلو لپاره ملا تړلې ده او لـه هـرې لارې څخـه بریـد تـه چمتو ناسـت دي. او دې موخې ته د رسېدو لپاره په نني وخت کې مذهبي اختلاف ورته یو غوره لاره ښکاري؛ نو کفار او د مزدورانو یې تل دې اختلاف وهلوته ټینګه مـلا تړلـی ده. او کـه راویښ نـه شو او د مـذهبي

تعصباتو په لومه کې ونښلو؛ نو باید پوه شو، چې مونږ به ناڅانخبري د اسلام او محمدي شریعت پر ضد راپاڅېدلي یو او د دین د دښمنانو موخوته به مو لاره لاپسې اواره کړي وي.

دویم داچې نن په ډېرو اسلامې هېوادونو کې شیعه او د اهل سنتو څلورګوني مذهبونه ګډ ژوند کوي او اسلامي هېوادونه له اقتصادي او علمي اړخه ډېر روسته پاتې دي او نالایقه دولتونه پرې واکمن دي. زمونږ هڅه باید داوي، چې له دې حالته ځان را اوباسو او که د مذهب په نامه له یوبل سره شخړه وکړو؛ نو د خپل هېواد له بدمرغۍ پرته به موبل څه لاس ته نه وي راوړي؛ ځکه په دې کار سره نه شیعه ګان له منځه ځي او نه سنیان او نه یې مذهبونه له منځه ځي. هو! خسرالدنیا ولاخره هوالخسران المبین؛ یعنې دنیوي او اخروي زیان به مو په برخه شوی وي، چې داڅرګند زیان دی، چې دا واقعیت د متعصبینو په هکله صدق کوي؛ خو که اوږه په اوږه د وروروليٰ په فضا کې او دتقوی تر سیوري لاندې ګډ کار وکړو؛ نو کولای شو درخپلو خلکو ددنیوي او اخروي نیکمرغۍ لپاره خدمت وکړو.

## د یووالي بنسټیزه لار

زما په نظر د یووالي غوره لاره داده، چې شته وهمونـه، بدبیني او لرېوالې له منځه لاړشي او یا لږ تر لږه کابو شي او پـه اسـلامي هېوادونو کې د شیعه او سني داسې مدرسې جوړې شي، چې په کې د شیعه او سني طالبان پـه ګـډه د فقـې، حـدیث، تفسـیر او عقایدو زده کړې تر سره کړي. له دې لارې نه به د دیني علومو زده کوونکي په غوره توګه یوبل وپېژني یو د بل له عقایدو نه به خـبر شي او یو بل تـه به رانـږدې شي. د ادب، منطـق او نـورو علومو کتابونه باید یو شي. د دیني علومو زده کوونکي پرتـه لـه دې نـه، چـې د خپـل مـذهب څلور ګـوني علـوم وایـي دنـورو مذهبونو څلور کتابونه (عقاید، تفسیر، فقه او حدیث) هـم بایـد دمقایسـې پـه توګـه ووایـي او همـدا دینـي زده کـونکي به د مسـلمانانو راتلـونکي مشران وي او خلـک به دیـووالي خواتـه رابولي او دېردیو له لاسوهنې، د بې خبره او نالوسـتو ملایـانو او له دننني تعصبونو څخه به په ټینګه مخه ونیسي.

# د پای خبرې

* شیعه د امامت له پلوه درې فرقې دي:
( ۱ )امامیه اثناعشریه شیعه، چې د شیعه و غټه برخه ده.
(۲) زیدیه شیعه څلور امامان مني او له څلورم امام(علي بن الحسین علیه اسلام) څخه روسته د زیدبن علي امامت مني (۳) اسماعیلیه شیعه شپږ امامان مني او له امام جعفرصادق(ع) څخه روسته د اسماعیل او یا د هغه د زوی محمد امامت مني. د اسماعیلیه و او د هغو د ځینو نورو څانگو په هکله ډېرې نورې خبرې هم شته.
له فقهي اړخه شیعه گان دوه مسلکه لري:
اصولي او اخباري (اهل حدیث)، چې د دوی ترمنځ ناڅیز توپیرونه شته. او اخباري مطلق لږکي دي.
سنیان د عقایدو له پلوه دوه ډلې دي:
اشاعره، چې اکثریت دي او معتزله، چې اوس بنایي ډېر لږ وي او دوی عقلي احکام مني. البته یوه دریيمه ډله هم باید پرې اضافه شي، چې وهابیان دي.
له فقهي پلوه سنیان پر څلور گونو مذهبونو (حنفي، مالکي، شافعي، حنبلي) ویشل شوي، چې په اسیایي هیوادونو کې

حنفي مذهب اکثریت دی او ډېرې یې له مذهب څخه بهر اجتهاد هم مني.

ان هذه امتكم امه واحده وانا ربكم فاعبدون

# په صحاح سته و کې د اهل بیتو مقام

او

# د شیعه و په احادیثو کې د اصحابو مقام

**یادونه**

د لوستونکیو د لا زیاتې پوهاوۍ لپاره د اهلبیتو علیهم السلام او اصحابو (رضی الله عنهم) پر مقام د پوهېدنې لپاره مونږ د اهل سنتو او د شیعه و د احادیثو په رڼا کې یوه رساله کښلې، چې دلته یې لازم بولو له دې لیکنې سره مل خپره شي.

الحمدالله الواحد الاحد الحکیم الصمد الذی من عز جلاله انه لم یلدولم یولد، الذی عرفنا واحدانیه بقوله: ولم یکن له کفوا احد.

والصلاه والسلام علی نبیه المسدد الموید ابی القاسم محمد وعلی اله الذین وردفی حقهم:

انما يريدالله ليذهب عنكم الرجس اهل البيت ويطهر كم تطهيرا.

وعلى اصحابه الذين مدحهم القرآن بقوله: محمد رسول الله ولذين معه اشداء على الكفار رحماء بينهم تراهم ركعا سجدا يبتغوفضلا من الله ورضوانا سيماهم فى وجوههم من اثر السجود. ذلک مثلهم فى التوره و مثلهم فى النجيل.

# خپلې خبرې

که په هېواد کې ملي یوالې او ټولنیز عدالت پلي نـه شي او کـار اهل او وړ ته و نه سپارل شي؛ نـو پـرمخ به ولاړ نـه شي. دمـلي یووالي له سترو عواملو څخه یو دادی، چې په هېواد کې د شیعه او سني په منځ کې ناوړه تفاهم له منځـه لاړ شي، چـې د بهرنیـو لاسوهنو، دننیو ناپوهانو او د متعصبه او کم علمه ملایانو له کبله پـر کـړکېچ اوړېـدلی دی؛ نـو ددې نـادودې د اواري لاره دا ده، چې په اصولي توګه یو بل وپېژني د یو بل له انـدونو او عقایـدو څخه خبر شي، چې په دیني او اسلامي ګډو ټکیو کـې د دواړو لوریو زړونه قناعت وکـړي او پـه دې پـوه شي، چـې د دوی پـه منځ کې د اختلاف ټکي فرعـي او نـا څیـزه دي. پـوهېږو، چـې پرعـاطفي او اخلاقـي لارو د دواړو مـذهبونو د لارویـانو نـږدې کېدل به دلنډ وخت لپاره وي؛ نو اړینه ده، چې دا کار له منطقي او معقولو لاروڅخه تر سره شي، چې دوام ومومي اوپـه لـومړي ګام کې باید د دواړو لوریو مذهبي عالمـان سره رانـږدې شي او په خپل منځ کې خوږلني، مینـه او قناعـت پیـدا کـړي، چـې بیـا دوی خلکو ته قناعت ورکړي.

له مذهبي عالمانو او خلکو څخه پرته درېيم ګړې ډله هم شته، چې کولای شي د خپل مذهب لارويانو ته قناعت ورکړي، د شيعه او سني په نږدېوالي، د ديني ورورولی په ټينګښت او دهېواد په سياسي، ټولنيز او بيارغاونه کې دپام وړ ونډه واخلي او هغه د شيعه او سني روڼ اندي او دلوړو زده کړو خاوندان دي؛ نو ځکه مذهبي عالمان او له پوهنتونونو څخه فارغ شوي کسان بايد د خپل مذهب له اصولو او عقايدو څخه خبر وي او پردې پوه شي، چې د اسلام د دين دټينګښت او دهېواد دملي ګټو لپاره د هغوی ترمنځ ديني ورورولي، دوستي اوګډ کار د اسلام له نظره روا دی او ښې پايلې لرلا شي. او دواړه مذهبونه اسلامي دي او دتشيع او تسنن لارويان دواړه مسلمانان دي. دواړه ډلې پر خدای عقيده لري او قرآن د خدای کلام او واجب الاتباع ګڼي او د اسلام د دين پر اصولو (توحيد-نبوت او معاد) عقيده لري او پر پيغمبرانو، رسولانو، اسماني کتابونو او پرښتو ايمان لري. او د دين ضروريات لکه لمونځ، روژه، حج، جهاد، زکات، خمس، پرنېکيو امر کول او له بديونه منعې کول مني او څه، چې په قرآن او سنتو کې حرام شوي، حرام يې ګڼي لکه شراب، دسرکوزي غوښه خوړل، سود خوړل، ځان ښودنه، زنا او

لواط او په فروعاتو کې اختلاف هغه څه دي، چې دمجتهدینو له اړخه داجتهادي کچو پر بنسټ منځ ته راغلي اود دین لاارویانو ته کوم زیان نه رسوي. که مجتهد دواقع مطابق فتوی ورکړې وي او یا یې تېروتنه کړي وي؛ نو داجر خاوند به وي او نیوکه پرې نه شي کیدای. هر انسان پر خپل وس پړدی او له خپلې وسې نه پورته څه نه شي کولای.

# ناصبي، غالي او کفار

کوم مذهبونه، چې کله نا کله د شیعه او سني پر ځلانده فضا تپې تېري راولي؛ نو دا مذهبونه په شیعه او اهل سنت کې نه شمېرل کیږي. شیعه او سني د عقایدو په اصولو او دشریعت په ټولیزو کې سره یو خوله دي. د سني او شیعه ستونزه له بهر څخه تپل شوې ده. د شیعه او سني عالمانو او پوهانو ته پکار دي، چې ورته د اواری لاره پیدا کړي. هو! دا ستونزه لکه دسرطان ددانې په شان دمنطق او علم له لارې نه باید عملیات شي، چې د مسلمانانو بدن بشپړه روغتیا ومومي.
په پایله کې د ځینو بې خبره شیعه ګانو او سنیانو دښمني او تربګني دنننې او بهرني لاملونه لري:

## بهرني لاملونه

بهرني لاملونه، کفار او د اسلام دښمنان دي، چې د اسلام د کمزورتیا او د اسلامي هېوادونو د ښکیلولو او د شتمنیو د زبېښلو په موخه یې په ډول ډول نومونو نېغ په نېغه او یا هم د ناپوهه، سست او کمزوري ایمان ملایانو او یا هم د مزدور ګوندونو او ډلو له لارې نه، مسلمانان یو له بله بېل کړي او د نفاق او

بدبينۍ تخمونه يې په کې شيندلي او لا يې شيندي؛ نو ځکه په مسلمانانو کې دا متل ډېر مشهور دی، چې" تفرقه واچوه او حکومت وکړه ". له دې عامل سره مبارزه او ډغره وهل ډېر ستونزمن دي؛ ځکه چې بهرنيان ډېرې پيسې لري، چې داخلي بې دينانو او د کمزوري ايمان خاوندانو ته يې ورکوي او دوی هم جاسوسۍ او حتی د باطلو اديانو د خپرولو او له ملي ګټو سره د خيانت لپاره چمتو ناست دي، دوی تشکيلات لري ، خپروني لري، خپل اربابان يې پر ملا ټپوي او خوږې خوږې خبرې کوي په داسې حال کې چې خپل ټول شرف يې پر پيسو پلورلی دی.

## دننني لامل

په دې لامل کې درې ډلې دي، چې مسلمانان له يوبله بېلوي، چې دا دي:

۱-ناپوهه، ساده، متعصبه د ګېډې نوکران او ځانمي ملايان، چې دنوم او ډوډۍ لپاره په ناحقه مذهبي تعصبونو ته لمن وهي او بې خبره عوام بې لارې کوي او دين، چې د مسلمانانو په منځ

کې دمينې او محبت لامل دی دوی پر دښمنۍ او فساد اړولی دی. د کفارو له شر ه د دوی شر ډېر اغېزمن دی.
۲-ناصبيان: دوی د حضرت پيغمبراکرم(صلی الله عليه و اله) په اهل بيتو او د هغوی په لارويانو پسې هر ډول دروغ او سپکې سپورې وايي. د شيعه و ځينې بې خبره خلک داسې گومان کوي، چی ټول اهل سنت به همدا شان وی؛ نو ځکه په مطلقه توگه د اهل سنتو پر وړاندې بد گوري. په داسې حال کې، چې ناصبيان ډېر لږ دي او اهل سنت د پيغمبر اکرم(صلی الله عليه و اله) د اهل بيتو درناوې کوي او د دوستۍ پر واجبوالي يې يوه خوله دي، چې مونږ به په دې ليکنه کې دا موضوع ثابته کړو.
۳- غاليان: دوی د اهل بيتو د امامانو مرتبه د الوهيت (نعوذ بالله) تر پولې پورې پورته وړي او قهرا د اصحابو کرامو بې احترامي کوي.
شيعه بايد پردې پوه شي، چې هر سني ناصبي نه دی، ناصبيان يوه کوچنۍ ډله ده، چی ډېر يې دم گړی په يو عربي هېواد کې اوسيږی او د هغوی افراطي فعاليتونو اسلامي نړۍ ته ډېر زيانونه رسولي او سنيان هم بايد پوه شی، چی په شيعه مذهب کې غاليان پر کفرتورن دي.

لکه ځرنګه، چې ناصبیان په اهل سنتو پورې اړه نه لري، غالیـان هم په شیعه و پورې اړه نه لري. که مونږ مسلمانان دا دوه ډلې له ځانه لرې کړو او وسوسو ته یې غوږ ونه نیسو؛ نو ډېر به نور هـم رانږدې شو.

# راپارونکي او بنسټيزه موضوع

الحمدالله په شيعه او سني کې د دين په اصولو [توحيد، نبوت او معاد] کې اختلاف نه شته؛ خو په څه کې، چې اختلاف دی او مسلمانان يې په دوو برخو[سني او شيعه] ويشلي، د اهل بيتو او صحابو مسله ده.

اهل سنت د صحابه کرامو (رض) لاروي کوي او د انحضرت (صلی الله عليه و اله) احاديث يې دا صحابو کرامو له لارې نه راوړي دي.

شيعه د اهل بيتو لاروي کوي او د انحضرت (صلی الله عليه و اله) حديثونه يې د اهل بيتو د امامانو له لارې نه راوړی. چې له اره د شيعه او سني توپير همدادی.

په دې هکله لاندې ټکيو ته پام وکړئ.

۱- د دواړو ډلو ډېر حديثونه په الفاظو او معنی کې يو شان دي؛ ځکه چې ددې حديثونو اصلی سرچينه يوه ده او هغه انحضرت (صلی الله عليه و اله) دی او توپير يوازې د نقل او روايتونو په طريقه کې دی، چې دا خو کومه ستونزه نه ده.

۲- ټول حديثونه په قطعي اوغوڅه توګه نه دي رارسېدلي اود راويانو تېروتنې او دروغ ددې احاديثو د توپير لامل شوی دی؛

نو ځکه په راتـول شویو حـدیثونو او حـتی د شیعه او سـني د عملي فروعو په کتابونو کې هم د حدیثونو توپیر (او تعارض) تر سترګو کیږي.

۳- که په یـو مـذهب کـې وي او کـه پـه دواړو کـې، د راویـانو وثاقت، ډاډمني، ناپوهي او کمزوري د حـدیث پـه اعتبـار او نـه اعتبار کې د پام وړ اغېزه لري او دا هم یـو ډول نظـري او علمـي بحث دی چې باید ډېر ټینګار پرې ونه شي.

٤- د سنت د راخیستلو په طریقه کې بایدد نظراختلاف د بدبینۍ لامل نه شي، انسانان په بېلابېلو مسایلو کې د نظر اختلاف لـري. په تېره بیا کله چې په ټولېزه توګه د دین په اصولواوفروعوکې پـه یواند وي؛ نو عقل دا وایي، چې باید د یو بل د انددرناوی وکړو. څه چې د شخړې او لرېوالي لامل ګرځي هغـه دا دی، چـې یـو لـوری د بل لـوري د مقدسـاتو سـپکاوی وکـړي اومخکـې مـو وویل، چې دا د غالیانو او ناصبیانو کار دی. او دې تـه ورتـه دی لکه پرلپرېدلي اور، چې تیل اچوي چې دا له اسلام، مسلمانانو او زمونږ له اسلامي هېواد افغانستان سره خیانت دی.

# په قرآن مجيد کې د اهل بيتو

# او اصحابو مقام

قرآن اسماني کتاب دی او ټول مسلمانان يې مني، قرآن هم د اهل بيتو مقام لمانځلې او هم يې د پرهيزگارو اصحابو ستاينه کړې ده؛ نو ځکه شيعه پردې موظف دي، چې د اصحابو درناوی وکړي او اهل سنت هم مکلف دي، چې له اهل بيتو سره مينه ولري.

قران (توبه ۱۰۰ ايت)دا صحابو په هکله وايي:

(وا لسا بقون الاولون من المهجرين والانصار والذين اتبعوهم باحسن رضی الله عنهم ورضوا عنه واعدلهم جنت تجری تحتها الانهرخلدين فيها ابد ا ذلک الفوزا لعظيم )

ژ باړه: "د مهاجرينو او انصا رو لومړني مخکښا ن او هغوی، چې په نېکيو کې په هغوی پسې لاړل، خدای له هغونه خوښ او هغوی (هم ) له خدای نه خوښ شول، هغو ی ته يې د جنت باغونه تيا ر کړي، چې ترونو لاندې يې ويا لي بهيږ ي او تل به په کې او سيږي او دا ستره بريا ده !"

هېڅ شيعه لـه دې ايـته منكـر نـه دى؛ نـو څكـه اهـل سـنت دې ډاډمن اوسي، چې شيعه ګان په ايت کې د ا شاره کـړاى شويو اصـحابو درنـاوى کـوي او هغـوى د عـزت وړ او سـتر بولي او همدارنګه قرآن د اهل بيتو په هکله وايـي: انمايريدالله ليـذهب عنكم الرجس اهل بيت ويطهركم تطهيرا (احزاب/٣٣)
ژباړه: "خداى اراده کړى، چې له تاسې اهل بيتو نـه چـټلي لـرې کړي او تاسې پاک او سوتره کړي ".
چټلي اوګناه د(( رجس)) منا سبه معنا ده؛ چې اهل البيـت تـرې پا ک اوسوتره شوي دي.
د اهل سنتو درواېتونو له مخې، چې روسته به وويل شي له اهل بيتو څخه مطلب حضرت پېغمبراكرم، علـى، فاطمـه، حسـن، او حسين دي (چې ددې ټولو په سر كې انحضرت صلى الله عليـه و اله دي)
كوم سني له دې ايته نه سترګې پټـولاى شي ؟ نـو زه شيعه و تـه ډاد وركوم، چې اهـل سـنت د همـدې قرآني ايـت لـه مخـې د پېغمبر اكرم(صلى الله عليه و اله) اهل بيتو ته ګـوري. كلـه چـې اهل تشيع داصحابو درناوې كوي او ورته په درونـد نظرګوري او اهل سنت هم د اهل بيتو درناوې كـوي او ورتـه پـه درونـد نظـر

ګوري؛ نو د شيعه او سني په منځ کې بلـه څـه سـتونزه ده؟آيـا د اسلامي ورورولۍ، دوستۍ، خيرغوښتنې او ګـډکار پـه لاره کـې کـوم بل خنـډ شته؟ دنـاپوهۍ، احقمانـه تعصـب او دپرديـو د لمسونونو او د هغوى له مزدوارنو پرتـه پـه دې لاره کـې بل څـه خنډ نه شته.

ان هذه امتکم امه واحده وانا ربکم فاعبـدون. واعتصـموا بحبـل اللـه جميعـا و لاتفرقـوا. انمـاالمومنون اخـوه فاصـلحوا بـين اخويکم.

## د اهـــل سنتو په احاديثو کې د اهل بيتو مقام

اهل بيت د اهل سنتو د عالمانو له نظره سـتر مقـام لـري او مـونږ ددې خبرې د اثبات لپاره د اهل سنتو لـه معتبرو کتابونو څخـه څلوېښت حديثونه راټول کړي، چې ددې دواړو لوريو پـه مـنځ کې ديووالي جرړې لاپسې ټينګې شي.

عن عائشه (رضي الله عنها): خرج النبى صـلى اللـه و عليـه والـه سلم_غداه و عليه مرط مرحل من الشعر الاسـود، فجـاء الحسـن بن على فدخله، ثم جاء الحسين بن على فدخل معه. ثم جـاءت فاطمه فدخلها، ثـم جـاء عـلى فادخلـه، ثـم قـال: انمـا يريـد اللـه

ليذهب عنكم الرجس اهل البيت و يطهركم تطهيرا. (صحيح مسلم ١٩٤/٥١)

(١) ام المومنين عايشه بي بي وايي:

يو سهار پيغمبر اكرم (صلى الله عليه و اله) بهر راووت او دتورو وېښتانو چپنه يې پر تن وه، روسته امام حسن راغى او انحضرت هغه تر چپنې لاندې ننه ايست، ورپسې امام حسين راغى او هغه يې تر چپنې لاندې ننه ايست، ورپسې فاطمه بي بي راغله او هغه يې هم تر چپنې لاندې ننويسته ورپسې علي راغى او پر هغه يې هم چپنه واچوله او بيا يې وويل: انمايريدالله ليذهب عنكم الرجس اهل البيت و يطهركم تطهيرا.[١٠]

(٢) له حضرت ابوهريره نه په يو روايت شوي حديث كې راغلي، چې: حسن يا حسين يوه كجوره راوخيسته او خولې ته يې وېوړه، پيغمبر اكرم (صلى الله عليه و اله) د هغه له خولې نه

[١٠] وگورىء: (صحيح مسلم ت١٥ /١٩۴)

راوویسته او ورته يې وویل: ایا نه پوهیږې، چې آل محمد صدقه نه خوري؟[11].

(۳) له ابوهریره نه په یو روایت شوي حدیث کې راغلي: پیغمبر اکرم (صلی الله علیه و اله) د حسن پـــر غاړه لاس واچـو، هغـه يې مـــــوچې کړ اوو يې وویل: خدایه! تـــــــــه دا ښه وګڼه او هغه هم ښه وګڼه، چې له دوی سره د چا مینه وي[12].

(٤) له حضرت سعد څخه روایـت دی کلـه، چې دا ایـت نـازل شو :تعالو اندع ابناءنا وا بناوکم ونساءناونساءکم. . . . .

رسول الله (صلی الله علیه و اله) علي، فاطمـه، حسـن او حسـین راوغوښتل اوو يې ویل:خدایه! دا زما اهل دي.[13]

دا حدیث اهل بیتو ته ستري ځانګړنې او فضایل ثابتوي.

(٥) له حضرت ابی سعید(رض) نه روایت دی چې: قـال رسـول الله (صلی الله علیه و الـه) الحسـن والحسـین سـید شباب اهـل

---

[11] وګوریء: (صحیح بخاری ١٤١٤ ګڼه حدیث، دکتاب الزکات برخه همدا شان روایت د صحیح بخاري کی په ١٤٢٠ شمېره او ٢٩٤٣ ګڼو او دصحیح مسلم داتلسم ټوک په لومړي کې هم راغلی دی).

[12] وګوریء: (صحیح بخاری ٢٠١٦ګڼه حدیث)

[13] وګورئ: (دجامع ترمذی ٣٢ټوک، یا دریېم مخ په سمو اسنادو)

الجنه. رسول الله (صلی الله علیه و اله) وايي: حسن اوحسـين د جنتي ځوانانو ښاغلي دي.[١٤]

(٦) له ابی هریره نه روایت دی چې: رسول الله وويل: جعفر مې ولید، چې په جنت کې له پرښتو سره الوته.[١٥]

(٧) له حضرت یعلی ابن مره نه روایت دی چې انحضرت (صلی الله علیه و اله) وويل:حسین له ما نه دی او زه لـه حسـین نـه یـم خدای دې هغه ښه وګڼي، چې له حسین سره یې دوستي وي؛ نو حسین مې له ځوځاته دي.[١٦]

(٨) حضرت براء(رض) وايي: دحدیبې په سوله کـې انحضرـت (صلی الله علیه و اله) علي ته وويل: زه له تا نه يم او ته له مـا نـه يې.[١٧]

(٩ )حضرت سهل ساعدي روایت کوي چـې: حضرـت پیغمـبر اکرم (صلی الله علیه و اله) دخیبر پـه ورځ وويـل: زه به سبا تـه

---

[١٤] وګوریء:( جامع الترمذي ٢٢٣ مخ)

[١٥] وګوریء: (جامع الترمذی ٢٢٣مخ)

[١٦] وګوریء: (جامع الترمذی ٢٢٥)

[١٧] وګوریء: (صحیح بخاری ګنه٢٥٥٢).

بیرغ هغه ته ورکوم، چې خدای به یې بریا په برخه کړي. د هغه، خدای اورسول خوښ دي اوخدای او د هغه رسول هم هغه خوښوي. خلک د شپې په دې فکر کې وو، چې د اسلام بیرغ به چاته ورکړ شي؟ سهار ټول اصحاب په هغه هیله و، چې پیغمبر اکرم (صلی الله علیه و اله) وویل: علي چیرته دی؟ ورته وویل شو سترګه یې خوږیږي. انحضرت یې پر سترګه د خپلې خولې لاړې ومښلې او ورته یې دعا وکړه د حضرت علي سترګه سمدستي داسې روغه شوه لکه چې کله یې هم نه خوږه، بیا یې ورته بیرغ ورکړ. حضرت علي وویل: له هغوی سره به وجنګیږم، چې له موږ غوندې (مسلمان) شي؟ انحضرت (صلی الله علیه و اله) وویل: په ورو ځه، چې هغوی ته (دخیبر یهودانو) ورورسیږې، بیا هغوی اسلام ته وبله او له هغه نه یې خبر کړه، چې پرې واجبیږي. په خدای سوګند که خدای ستا له لارې نه چاته لارښونه وکړي؛ نو دابه تا ته تر زرو سرو ویښتونو اوښانو (دا اوښان په عربو کې ارزښتمن و ) نه هم غوره وي.[۱۸]

[۱۸] وګوریء: (صحیح بخاری دجهاد کتاب ۲۸۴۷ ګڼه، صحیح مسلم ۱۸۵/۱۲)

تول پوهېږو، چې حضرت علي په فوق العاده توګه د خيبر کلا فتح کړه، چې د خيبر پر فاتح مشهور شو.

(۱۰) له عايشی بي بي (رضی الله عنها) نه روايت دی چې: پېغمبر اکرم (صلی الله عليه و اله) دمړينې د ناروغې پر مهال فاطمې بي بي ته وويل: ايا خوښه نه يې، چې دجنتي ښځو يا دمومنه ښځو بي بي اوسې؟[19]

(۱۱) له حضرت مسوره (رض) نه روايت دی، چې حضرت پېغمبر اکرم (صلی الله عليه و اله) وويل: فاطمه زما دوجود يو ټوټه ده، چا چې په غوسه کړه؛ نو زه به يې په غوسه کړی يم.[20]

(۱۲) له سعد نه روايت دی چې حضرت پېغمبر اکرم (صلی الله عليه و اله) حضرت علي (ک) ته وويل: [ اما ترضی ان تکون منی بمنزله هارون من موسی. ] ايا خوښ نه يې، چې ته ما ته داسې ا وسې لکه هارون، چې موسی ته و؟[21]

---

[19] ر

[20] وګورىء: (صحيح بخاري، فضايل الصحابه ۳۵۱۰ ګڼه)

[21] وګورئ: (صحيح بخاری۳۵۰۳ګڼه دفضايل الصاحبه کتاب) او مسلم په صحيح کې زياتوي: الا انه لا نبی بعدی مګر دا، چې زما نه روسته نبي نه شته؛ يعني کوم منزلتونه، چې د حضرت موسی له خوا هارون ته و، تا ته هم

(۱۳) د حضرت زید ابن ارقم د حدیث په ترخ کې راغلي چې رسول الله (صلی الله علیه و اله) یوه ورځ د مکې او مدینې په منځ کې اوبو د ډنډ غاړې ته، د خدای له ثنا او صفت روسته یې دا وینا وکړه:

ای خلکو! یوه شئ زه هم ستاسې په شان (یو) بشر یم او نږدې دی له تاسې څخه لاړ شم او تاسې ته دوه درانه یا ښکلي څیزونه پرېږدم. یویې د خدای کتاب دی، چې په کې لارښوونه او رڼا ده او منګولې پرې ولګوئ او بیا یې وویل:زما اهل بیت. زه د خپلو اهل بیتو په حق کې تاسې ته خدای یادومه. ( دا جمله یې درې واره وویله چې د خدای لپاره زما اهل بیت هېر نه کړئ) حصین، زید بن ارقم (د حدیث راوی) ته وویل: د پېغمبر (صلی الله علیه و اله) اهل بیت څوک دي؟ او ایا ښځې یې په اهل بیتو کې نه دي؟ زید وویل: ښځې یې هم په اهل بیتو کې راځي؛ خو اهل بیت هغه کسان دي، چې صدقه پرې حرامه شوې ده، حصین وویل: هغوی څوک دي؟ زید وویل: هغه د

---

شته؛ خو هارون نبي و او ته د نبوت مرتبه نه لرې؛ ځکه چې زه خاتم النبیین یم.

عـلی آل، دعقیـل آل، دجعفـر آل او دعبـاس آل دي. حصـین وویل: پر دوی ټولو صدقه حرامه ده، زید وویل:هو.[22]

(١٤) عمر بن ابی سلمه وایي: کلـه چـې دا ایـت (انمـا یریداللـه لیذهب عنکم الرجس اهل البیت و یطهرکم تطهیرا) د ام سـلمی بي بي په کورکې پر پیغمبر اکرم (صلی الله علیه و اله) نازل شو؛ نو فاطمه، حسن، حسین، یـې راوغوښـتل اویـوه چپنـه یـې پـرې واچوله، حضرت علي یې شاته ولاړ و، هغه یې هم په چپنه کـې ننه ایست او و یې وویل: خدایـه! دا زمـا اهـل بیـت دي، چـټلي ترې لرې کړه او پاک یې کړه، ام سلمې بي بي وویل: ایا زه هـم له دوی سره یم؟ پیغمبر اکرم (صـلی اللـه علیـه و الـه) وویل:تـه ځان ته ځای لرې او نېکه یې.[23]

(١٥)عن حبشي بن جناده، قال رسول الله(ص) علي له مـا څخـه دی او زه له علی څخه یم اوله ما څخه نه ادا کوي؛ خو زه پخپله یا علي.[24]

---

[22] وگوریء: (صحیح مسلم ١٨٠/٥١-١٧٩)

[23] (جامع ترمذی ټوک ٩٢/٣)

[24] وگوریء: (جامع ترمذی ٢١٤/٣)

(۱٦) له حذيفه نه په يو روايت کې ويل شوي: حضرت پيغمبر اکرم (صلی الله عليه و اله) وويل: ان هذا ملک لم ينزل...... دا هغه پرښته وه، چې له نن شپې نه مخکې پر ما نه وه راکښوتې. له خدای نه يې اجازه وغوښته، چې پر ما سلام واچوي او ماته زيری راکړي، چې فاطمه بي بي دجنت دښځو بي بي او حسن او حسين د جنت دزلميانو ښاغلي دي.[25]

(۱۷) عبدالسلام بن الصلت الهروی وايي: علي بن موسی الرضا له خپل پلار موسی بن جعفر له جعفر بن محمد، له خپل پلار علي بن الحسين، له خپل پلار علي بن ابيطالب نه روايت کوي چې پيغمبر (صلی الله عليه و اله) وويل: الايمان معرفه باالقلب و قول بااللسان و عمل بالارکان. بيا ابو الصلت وويل:که دا اسناد (د اوو امامانو نومونه، امام رضا، امام موسی کاظم، امام جعفر صادق، امام محمد باقر، امام زين العا بدين، امام حسين، امام علي) پر يو ليوني چوف شي؛ نو روغ رمټ به شي.[26]

[25] (جامع ترمذي۳ټوک/۲٦٦).

[26] (وګورئ د جامع ترمذی سريزه ٦۵ مخ)

(۱۸) حضرت براء بن عازب وايي: له رسول الله (صلى الله عليه و اله) سره حج (حجة الوداع) ته لاړو په لاره کې دلمانځه لپاره ودرېدو. بيا يې د حضرت علي (ک) لاس ونيو او و يې وويل: الست اولا بالمومنين من انفسهم؛ ايا زه مؤمنانوته ددوی ترځانوغوره نه يم؟ ټولو وويل: هو! ايا زه مومن ته ترهغه غوره نه يم؟ ټولو وويل: هو؛ نو دا (علي) د هغه چا ولي دی، چې زه يې ولي يم خدايه! له دوستانو سره يې دوستي وکړه، او له دښمنانو سره يې دښمن اوسه.[۲۷]

(۱۹) د عمران بن حصين په روايت کې راغلي: په داسې حال کې، چې د پيغمبر اکرم (صلى الله عليه و اله) پر څېرې دغوسې نښې ښکارېدې ويې ويل: له علي نه څه غواړئ؟ له علي نه څه غواړیء؟ له علي نه څه غواړیء؟ علي له ما نه دی او زه له علي نه يم او هغه له ما روسته د هر مومن ولي دی.[۲۸]

(۲۰)ابن عمر (رض) وايي: رسول الله (صلى الله عليه و اله) وويل: حسن او حسين دوه جنتي ځوانان دي او پلار يې له داوړو څخه غوره دی (دسنن ابن ماجه سريزه ۱٤٤- ګڼه)

---

[۲۷] (جامع ترمذی – ۱۱٦ مخ)

[۲۸] (ترمذی۳ټوک/۲۱۳)

(۲۱) و عن علي :انا عبدالله واخوه رسوله ا نا الصديق الاکبر، لايقولها بعدی الا كذاب، صليت قبل الناس سبع سنين. حضرت علي وايي: زه د خدای بنده، د پيغمبر ورور او صديق اکبر يم، او ترما روسته يوازې دروغجن دا خبره کوي، او ماتر خلکو اووه ورځې وړومبی لمونځ کړی دی.

په زوايدکتاب کې لېکل شوی، چې ددې روايت اسناد صحيح دي او راويان يې ثقه دي او حاکم دا حديث په مستدرک کې له منهال نه روايت کړی او ويلي يې دي: صحيح على شرط الشيخين.[۲۹]

(۲۲) زيد بن ارقم له رسول الله (صلی الله عليه و اله) نه روايت کړي، چې رسول الله (صلی الله عليه و اله) حضرت علي، فاطمې، حسن او حسين ته وويل: څوک، چې له تاسې سره په جنگ کې وي؛ نو زه به هم ورسره په جنگ کې يم او که څوک درسره په سوله کې وي؛ نو زه به هم ورسره په سوله کې يم.[۳۰]

(۲۳)کعب ابن عجره په يو روايت کې وايي: له رسول الله (صلی الله عليه و اله) نه مو پوښتنه وکړه، پر تاسې اهل بيتو

---

[۲۹] ( د هماغه کتاب ۱۲ مه گڼه حديث)

[۳۰] (د سنن ابن ماجه سريزه ۱٤٥ گڼه)

څرنګه درود ووایو؛ څکه خدای ویلي، چې څرنګه پر تاسې درود ووایو!و یې ویل: اللهم صل علی محمد وآل محمد کما صلیت علی ابراهیم وآل ابراهیم انک حمید مجید. اللهم بارک علی محمد و آل محمد کما بارکت علی ا براهیم وآل ا براهیم انک حمید مجید.[٣١]

(٢٤) زید ابن خارجه (رض) وایي، چې ما له پیغمبر اکرم (صلی الله علیه و اله) نه پوښتنه وکړه:راته یې وویل: پرما درود ووایئ او په دعا کې هڅه وکړئ او ووایئ: اللهم صل علی محمد وآل محمد.[٣٢]

(٢٥) حضرت علي (ع) له پیغمبر اکرم (صلی الله علیه و اله) څخه روایت کوي: مهدی (اخرالزمان) زما له اهل بیتو څخه دی او د هغه کار به خدای په یوه شپه کې جوړ کړي.[٣٣]

(٢٦) له انس څخه روایت دی:له رسول الله (صلی الله علیه و اله) څخه مې واوریدل: مونږ د عبدالمطلب زامن د جنت سرداران یو زه، حمزه، علی، جعفر، حسن، حسین، او مهدي.[٣٤]

---

[٣١] (صحیح بخاری دالانبیاء کتاب ٣١٩٠ ګڼه حدیث )

[٣٢] (سنن نسائی ٤٩/٣ –او په همدي کتاب کې نور اسناد او متنونه وګورئ)

[٣٣] (سنن ابن ماجه ٤٠٨٥ ګڼه)

(۲۷ )جابر ابن سمرة وايي: له پلار سره مې پېغمبر اکرم (صلی الله علیه و اله) ته ورغلو او و یې وویل: دا کار په سرته ونه رسيږي، څو په مسلمانانو کې دولس تنه خلفاء تېر شي، روسته انحضرت (صلی الله علیه و اله) څه وویل، چې وامې نه ورېدل له پلار نه مې پوښتنه وکړه، راته یې وویل: انحضرت وویل: چې دا ټول به له قریشو څخه وي.[35]

دا حدیث په مختلفو اسنادو او ډول ډول متنونو کې د اهل سنتو په کتابونو کې روایت شوی دی. یوازې مسلم دا له جابر ا بن سمرة (رض) څخه په اتو بېلابېلو لارو روایت کړی دی. په صحیح بخاري کې یو یا دوه حدیثونه د احکامو په کتاب کې روایت شوي دي، که دا ټول حدیثونه راټول کړو؛ نو په ښکاره د پر له پسې توب او تواتر پولې ته رسي. ا بن حجر شافعي دصواعق په ۱۸ مخ کې وايي:قال الائمه صدر الحدیث مجمع علی صحته، وارده من طرق عدیده اخرجه الشیخان و غیرهما فمن تلک الطرق..... امامانو ویلي دي، چې دحدیث د لومړی برخې (خلفا دولس تنه دي) پر سموالي یوه خوله یو،

[34] (سنن ابن ماجه ٤۰۸۸ گڼه حدیث )

[35] (صحیح مسلم، کتاب امارة شپږم ټوک )

چې له بېلابېلو لارو څخه روایت شوي او بخاري او مسلم او نورو په خپل کتابونو کې ثبت کړی دی؛ نو ځکه د اهل سنتو عالمان دحدیث پر له پسې والې یوه خوله دی اوحدیث یې شهردار بن شیرویه دیلمی د فردوس کبیر په مسند کې له ا بې سعید خدري څخه روایت کوي، چې: مونږ له رسول الله (صلی الله علیه و اله) سره لمونځ وکړ، بیا یې مخ مونږ ته کړ او ویې ویل: په تاسې کې د اهل بیتو مثال د نوح د بیړۍ په شان او په بني اسرائیلو کې د حطی د وره په شان دی؛ نو له ما نه روسته زما پر اهل بیتو منګولې ولګوئ، را شدین امامان زما له ځوځاته دي؛ نوتاسې به هېڅ کله بې لارې نه شئ، وویل شو: یا رسول الله! کم ائمه بعدک؟ قال: اثناعشر من اهل بیتو اوقال من عترتی، یعنې انحضرت (صلی الله علیه و اله) وویل: (له ما نه روسته) امامان دولس تنه زما له عترت یا اهل بیتو څخه دي[٣٦].

(٢٨) پیغمبر اکرم (صلی الله علیه و اله) وایي: ای خلکو!ما په تاسې کې داسې څه پرېښودل که و یې منۍ؛ نو هېڅکله به بې

[٣٦] (دا چې مسندالفردوس له ما سره نه و؛ نو ځکه مې دا حدیث له عبقات الانوار ٢ټوک، ٩٨٠ مخ (نوی چاپ) څخه را خستی دی

لارې نه شئ، هغه د خدای کتاب او زما عترت او اهل بيت دي.[۳۷]
دا حديث هم ګڼ شمېر سندونه اومتنونه لري او ا بن حجر شافعي وايي، چې دا حديث له شلو څخه ډېرو اصحابو روايت کړی. او په ځيني متونو کې راغلي: ولن يفترقا حتی يردا علی الحوض. قران اواهل بيت هېڅکله يو له بله نه بېلېږي څو په((حوض کوثر)) کې له ما سره يو ځای شي.
(۲۹) زما د اهل بيتو مثال دنوح د بېړۍ په شان دڅوک، چې په کې سپاره شول؛ نو وژغورل شول او څوک، چې ترې سر وغړوي؛ نو غرق به شي.[۳۸]
(۳۰) زيد بن ارقم وايي: رسول الله (صلی الله عليه واله) وويل: څوک چې غواړي زما په شان ژوند وکړي او زما په شان مړ شي او په هميشني جنت کې له ما سره ميشت شي، چې خدای يې راسره ژمنه کړی؛ نو له علي بن ابيطالب سره دې دوستي وکړي؛ ځکه هغه به کله هم تاسې بې لارې نه کړي (حاکم دا حديث په مستدرک کې روايت کړی او صحيح يې ګڼلی، او طبراني د

---

[۳۷] وګورئ:(ترمذی، نسائي او د کنزالعمال هندي د لومړي ټوک مخ٤٤)
[۳۸] (داحديث هم ګڼ شمېر متنونه او سندونه لري)

ابونعیم په کبیر د فضایل صحابه په برخه او متقی پـه کنـزالعمال کـې را اخسـتی دی) او د زیـاد ا بن مطـرف پـه روایـت کـې د حضرت علي له نوم روسته د هغه څوځات هم یاد شوی دی.

(۳۱) قوله (ص):النجوم امان لاهل الارض من الغرق، واهل بیتی امان لامتی من الاختلاف، فاذا خالفتها قبیله مـن العرب اختلفـوا فصـاروا مـن حـزب اللابلـیس. (رواه الحـاکم فـی مسـتدرکه وصـححها علـی شرط الشـیخین کـما فـی الصـواعق) سـتوري دځمکي اوسیدونکي له غرقېدلو څخه خوندي ساتي او زما اهل بیت هم زما امت له اختلاف څخـه خونـدي سـاتي دعربو ټـبر، چې زما له اهل بیتو سره مخالفت وکړي؛ نو دابلیس په ګونـدکې به وي.

(۳۲) روایت دی څوک چې له ما نه اطاعت وکړي؛ نو له خدای نه به یې اطاعت کړي وي او هم روایت دی څوک، چې له علي نه اطاعت وکړي؛ نو له ما نه به یې اطاعت کړی وي[39].

[39] (دا روایتونه حاکم د مستدرک په دریيم ټوک ۱۲۱ مخ کې او ذهبي په خپل لنډيز کې را اخستی دی او دواړه یې د بخاري او مسلم پر شروطو صحیح ګڼلی دی)

(۳۳) ابن عباس له انحضرت (صلی الله علیه و اله) څخه روایت کوي:زه، علي، حسن، حسین او د حسین نهه تنه اولاده سپېڅلي او معصومان یو.

وګوریء: (ینابیع الموده، فرایدالسمطین، دابن ابی الحدید دنهج البلاغې شرحه)

(۳٤) اخرج الخطیب عن انس کما فی الصواعق، چې انحضرت (صلی الله علیه و اله) ویلې:دمومن دپاڼې نوم دعلي ابن ابیطالب دوستی ده.

(۳۵) روی ابن سماک کما فی الصواعق، عن ابابکر (رض) قال العلي (ک): له رسول الله (صلی الله علیه و اله) څخه مې واریدل، هېڅ څوک به له پل صراط څخه تېرنه شي؛ خو داچې علي ورته دتېریدلو اجازه ورکړي.

(۳٦) قوله (ص) وویل: کمافی الصواعق: په خدای مې دی قسم وي څوک، چې زما له اهل بیتو سره کینه ولري خدای به یې په دوزخ کې وغورځوي.

(۳۷) د قاضی عیاض دشفا د کتاب په ٤٠ مخ کې روایت شوي، چې: انحضرت (صلی الله علیه و اله) وویل: دآل محمد(صلی الله علیه و اله) پېژندنه ددوزخ له اوره خلاصېدل دي. له آل

محمد(صلی الله علیه و اله) سره دوستي دصراط پر پـل تېرېـدل دي او له آل محمـد سره دوسـتي لـه عـذاب څخـه خونـديتوب دی.

(۳۸) حاکم په مستدرک (۱۳۸/۳) کې له انحضـرت (صـلی الله عليه و اله) نه روايت را اخستی، چې سنديې د بخـاري او مسـلم پر شرايطو سم دی او هغه دا، چې: دعلي په حق کـې ماتـه دری څيزونه ويل شوي دي: چـې هغـه د مسـلمانانو سـيد او ښـاغلی، دمتقيانو امام او "قائدالغرالمحجلين" دی.

(۳۹) انحضرت (صلی الله علیه و اله) وايي: زه او عـلي دقيامـت په ورځ به پر امت حجت يو.[٤٠]

(٤٠) حضرت سلمان فارسي له حضرت پېغمبر اکرم (صـلی الله علیه و اله) څخه روايت کوي: ای سلمانه! کـه څـوك زمـا د لـور فاطمې سره مينه ولري؛ نو په جنت کې به لـه مـا سره وي او کـه څوك ورسره کينه ولري؛ نو ځای به يـي دوزخ وي، ای سـلمانه! له فاطمې سره مينه په سلو ځايونو کي انسان ته گټـه رسـوي، پـه مړينه، قبر، د عملونو په تللو، حشر او په پل صراط کي به انسـان ته اسانتياوې وي، که زما لور فاطمه له چا څخه راضي وي؛ نو زه

[٤٠] وگوری:(کنزالعمال ١٥٧/٦)

به ترې راضي اوسم او له چانه، چې زه راضي شم؛ نو خدای به ترې راضي وي که چا زما لور پر غوسه کړه؛ نو زه به يې پر غوسه کړی یم او پر چا، چې زه غوسه شم؛ نو خدای به پرې غضب وکړي ای سلمانه! پر هغه دې افسوس وي، چې پر فاطمې، د هغې پر خاوند علي او د هغې پر اولادې او پلويانو تېری وکړي.[41]

دا د هغو نبوي احاديثو يوه برخه ده، چې د اهل سنتو محترمو محدیثینو او راويانو روايت کړي دي.

پايله داچې اهل سنت د اهل بيتو دښمنان نه؛ بلکې د اهل بيتو دوستان، مخلصين او پر فضايلو يې قايل دي.

---

[41] وګورىء: (مقتل خوارزمي ١/ ٦٤، درالمنثور ١٥٣/٤، ميزان الاعتدال ٥١٨/٢ تاريخ بغداد ٨٧/٥)

# د شیعه و په روایتونو کې د ا صحابو کرامو مقام

موږ له امام جعفر صادق (ع) څخه د اصحابو کرامو په هکله دوه روایتونه را اخلو، چې سندونه یې صحیح دي، چې زموږ اهل سنت وروړنه په دې پوه شي کوم تورونه او دروغ چې په شیعه و پورې تړل شوي، له واقعیت سره اړخ نه لګوي او دواړه لوري سره وروڼه دي او باید یو له بل سره دوستي او ګډ کار وکړي، چې د اسلام عظمت خوندي پاتې شي، چې دا د دواړو لوریو موخه هم ده.

(۱) منصور ابن حازم له امام صادق (ع) څخه د حدیث په هکله پوښتنه وکړه: راته ووایه: څه، چې درسول الله (صلی الله علیه و اله) اصحابو له آنحضرت (صلی الله علیه و اله) څخه روایت کړي ایا رښتیا دي او که دروغ یې ورپورې تړلي دي؟ و یې وویل: رښتیا دي. ومې ویل:؛ نو په حدیثونو کې ولې اختلاف را پیدا شو؟ و یې ویل: ایا نه پوهیږې، چې یو صحابي به آنحضرت (صلی الله علیه و اله) ته راتله او د څه په باب به یې پوښتنه کوله او انحضرت (صلی الله علیه و اله) به یې ځواب

وایه بیا به يې ورته داسې ځواب وایه، چې لومړۍ ځواب یې نسخ کاوه.[٤٢]

له دې حدیث نه زما موخه دنسخ بحث نه دی، چې دا باید د فقې داصولو د علم په برخه کې وڅېړل شي؛ بلکې موخه مې داده، چې امام صادق هغه اصحاب، چې له انحضرت (صلی الله علیه و اله) نه یې بېلابېل روایتونه روایت کړي، تصدیق کړي دي او د حدیثونو د اختلاف علت یې د هغې دروغوالې نه؛ بلکې د هغوی نسخ ګڼلې دی. هو! د دی حدیث پربنسټ صحابه کرام باید ریښتني وګڼو.

(٢) امام صادق (ع) دهشام بن سالم په معتبره کې وایي: د رسول الله (صلی الله علیه و اله) یاران دولس زره تنه وو، اته زره تنه د مدینې، دوه زره دمکې او دوه زره طلقاء (ازاد شوي) وو او په دې ټولو کې نه قدري و، نه مرجي، نه حروري، نه معتزلي او نه د رای خاوند. او دې ټولو به د شپې او ورځې ژړل او له خدایه به یې غوښتل، مخکې له دې نه، چې خمبیره شوی ډوډۍ وخوري ساه یې واخلي.[٤٣]

---

[٤٢] وګوریء: (اصول کافی ١/٦٥)

[٤٣] وګوریء:(البحار ٢٢/ ٣٠٥ له الخصال نه را اخستل شوی دی)

اوس چې مونږ د اهل بيتو مقام د اهـل سـنتو پـه حـديثونو کـې (چې مـونږ تـرې ډېـر لـږ را واخسـتل) او د امـام صـادق پـه دوو احاديثو کې د اصحابو پر مقام پـو شو؛ نـو پـوهيږو کـوم دروغ، چې په شيعه او سـني پسـې تـړل کيـږي، ټـول بې بنسـته او بې ارزښته دي. په شيعه و پورې داسې دروغ تړل شوي، چې دوی له څلوروا صحابو پرته نور ټول (نعوذ بالله) کافر ګڼـي. دا دروغ هغه وخت رسوا کيږي، چې ډېر شمېر اصحاب د صفين، جمـل او نهروان په جنګونو کې د حضرت علي (ع) د مخالفينو پر ضد له حضرت علی سره ولاړوو. او د تاريخ او دمخورو عالمانو پـه ګواهی دا اصحاب په همدې جنګونو کې شهيدان هم شول. ايا دا به معقوله وي، چې شيعه هغوی کافر وګڼي؟

وګورئ، چې څنګه ړوند تعصب انسان پـر دروغجنـو او پـوچـو خبرو اخته کوي؟ په سنيانو پورې تـړل شوي، چـې د اهـل بيـتو دښمنان دي او يا يې له فضـايلو نـه منکـر دي. دا ټـول دروغ د تېرو حديثونو په راوړلو سره په څرګنـده باطـل شول.؛ نـو څکـه سني او شيعه د قرآن دوينا له مخـې (انمـاالمومنون اخـوه) بايـد ديني ورونه وي. او د قرآن دحکم له مخې (ولاتنازعوا فتفشـلوا وتذهب ريحکم) بايد لـه خپلمنځـي شخړو څخـه ډډه وکـړي،

چې کمزوري نه شي او د قرآن دحکم له مخې (وتعـاونوا عـلى البر و التقوى) باید په پرهیزگارۍ او ښو چارو کې یو له بل سره گډکار وکړي.

ان هذه امتکم امه واحده وانا ربکم فاتقون

د همداسې ورځې په هیله

**والسلام کابل**

د ۱۳۸۲ل د وري ( ۲۹) مه

## دويمه برخه؛

# د اسلامي امت د يووالي پلي کول

# د اردن په پلازمینه عمان کې د جوړ شوي

# نړیوال اسلامي کنفرانس بیانیه

دا غونډه د اردن په پلازمینه عمان کې د ۱٤۲٦ د جمادی الاول له ۲۷ څخه تر ۲۹ پورې، چې د ۲۰۰۵ د جولای له ٤ څخه تر ٦ نیټې پورې سمون خوري جوړه شوه، د غونډې نوم و "د اسلام حقیقت او په اوسنۍ ټولنه کې د هغه ونډه".

په دې غونډه کې د اسلامي نړۍ مخورو شخصیتونو ګډون کړی وو.

د انسان رښتیني نیکمرغي په دین کې ده، پر دین باور لرل د انسان کمال او ارمان دی. او لوړ او بشپړ انساني پړاو ته درسېدو لاره هم ده.؛ نو د یو مسلمان ستر ارمان پر "حبل الله" منګولې لګول او پر دین راټولېدل دي؛ ځکه کومه لاره، چې انسان خپل ستر ارمان ته رسوي؛ نو هغه دین مونږ ته را پېژندلی ده. او د اسلامي امت صلاح او مصلحت په یووالی کې دی، چې په قبله کې سره یووالی پیدا کړي؛ دا ځکه د انسان ژوند هماغه "حیات طیبه" دی، چې خدای او د هغه رسول ورته مومن کسان را بللي دي. مومن هغه دی، چې د حرکت لورې یې معلوم وي

او دا لورې مونږ ته کلمه طيبې؛ يعني "لا اله الا الله" ښودلى دى، چې انسان صلاح او نيکمرغۍ ته ورسيږي؛ نو ځکه قرآن کريم د دين ربنتيني پلويان پردې کلمې منګولو لګولو ته را بولي.

د دې غونډې ګډون کوونکيو هم د اسلامي امت نيکمرغي او وده د هغوى په يووالى کې ګڼي او د غونډې په پاى کې يي پرهمدې پريکړه يوه خوله شول او له اسلامي امت څخه يي د دې پريکړې پلي کېدل وغوښتل.

اوس د دې غونډې پرانېستې وينا وړاندې کېږي، چې د اردن پاچا "ملك عبد الله ثاني" ويلى وه او ورپسې به د غونډې پريکړه وړاندې شي.

## درنوو پوهانو ورونو !

زه په ډاډ سره وايم کومې ستونزې او ګواښونه، چې نن ورسره مسلمانان لاس په ګرېوان دي، تاسې هم پرې پوره خبر ياست او پردې هم پوهېږئ، چې په نننى وخت کې اسلام د ډېرو تورونو تر بريد لاندې دى او همدارنګه تاسې دې ټکي ته هم رسېدلي يئ، چې د دې بريدونو دوه علتونه دي، چې دا دى:

۱- ځینو مسلمانانو ځان د اسلام د دین پر حقیقت او جوهر باندې سم نه دی پوه کړی او د دوی فکرونه نیمګړتیاوې لري.
۲- ډیر غیر مسلمانان د دین پر حقیقت او د هغه پر لوړو ارزښتونوو نه دي خبر.
او ستاسي دنده اود دیني رسالت د پام وړ ټکی هم همدا دی، چې د ټولو اسلامي مذاهبو لارویان د دین پر اصولو پوه او بیا یو کړئ.
خدای دې مونږ ټولو ته دا توفیق راکړي، چې د دین خدمت وکړو او مسلمانان سره یو موټی کړو.
پر تاسو ټولو دې د خدای برکتونه او رحمتونه وي.

## د لوی او ښونکي خدای په نامه

درود او سلام دې وي زمونږ پر نبي محمد (صلی الله علیه و آله) او د هغه پر آل باندې.
(ای خلکو! له خپل پالونکي څخه وویریږئ، هغه پالونکي، چې تاسې یې له یو تن څخه پیدا کړئ. )
("نساء /۱" )

# د اردن په پلازمینه عمان کې د نړیوال اسلامي کنفرانس بیانیه

**د دې کنفرانس عنوان و "د اسلام حقیقت او په اوسنۍ ټولنه کې د هغه ونډه".**

د الازهر د ستر مشر شيخ مکرم د فتوی او د حضرت آيه الله العظمی سيد علي سيستاني د فتوی او د مصر د مفتي د فتوی او د شيعه د سترو مراجعو (جعفريه، زيديه) د فتوی او د عمان د پادشاهۍ د عام مفتي د فتوی ګانو او د اسلامي فقهي نړيوالې مجمع [د اسلامي کنفرانس نړيوال سازمان جده، د عربستان سعودی پادشاهي] او د ترکيې د ديني چارو اعلا مجلس او د اردن مفتی او د اردن د افتاء انجمن او د ښاغلي ډاکټر يوسف القرضاوی د فتوی پر بنسټ او همدارنګه د اردن د پادشاه ملك عبدالله ثانی ابن حسين د پرانستې وينا له مخې او زمونږ د علم پر بنسټ، چې د "خالصا لوجه الله الکريم" لپاره دی او زمونږ د څېړنېزو بحثونو او په کنفرانس کې د وړاندې شويو نظرونوله مخې، د دی بيانيي د پای لاسليك کوونکيو دا پايليزه پرېکړه تصويب کړه او پرې التزام لرو.

۱- څوك چې د هر اسلامي مذهب لاروی وي؛ نو مسلمان دی. اسلامي مذهبونه دا دي: د اهل سنتو څلورگوني مذهبونه (حنفي، مالكي، شافعي او حنبلي)، جعفری مذهب، زيدې مذهب، اباضي مذهب او ظاهريه مذهب. څوك چې پردې اتو مذاهبو باور ولري؛ نو مسلمان به وي او تكفيرول يې جايز نه دي او وينه، آبرو او مال يې حرمت لري. د الازهر د شيخ د فتوی له مخې د اشعريه د عقيدې د لارويانو او د حقيقي تصوف د پلويانواو د واقعي سلفيانو د پلويانو تكفير روا نه دي.

۲- د مسلمانانو بله هر ډله، چې پر خدای او د هغه پر رسول او اركانو ايمان ولري او د اسلام د اركانو حرمت او درناوي كوي او په يقين سره، څه چې د دين له ضروورياتو څخه وي ترې منكر نه وي؛ نو تكفيرول يې روا نه دي.

۳- د ټولو اسلامي مذهبونو په منځ كې د اختلاف په پرتله گډ ټكي ډېر تر سترگو كيږي. پر همدې بنسټ د اته گونو مذاهبولارويان د اسلام د دين په اصولوكې يوه خوله دي.

ټول پر لوی او يو خدای عقيده لري او همدارنگه پردې هم عقيده لري، چې قرآن كريم د لوی خدای له خوا پر پيغمبر اكرم (صلی الله عليه و آله) نازل شوی او په يقين سره، چې دا كتاب

د خدای کلام دی او حضرت محمد (صلی الله علیه و آله) زمونږ مشر، لارښود او د خدای پیغمبر دی او نړیوالو ته مبعوث شوی دی.
٤- دا ټولې ډلې د اسلام په پنځګونو ارکانو، شهادتینو، لمونځ، زکات، روژې او حج کې یوه خوله دي او همدارنګه د ایمان په اصولوکې هم سره یوه خوله دي لکه، پر خدای ایمان لرل، پر ملائکو ایمان لرل، د خدای له خوا پر رالیږل شویو اسماني کتابونو، پیغمبرانو، قیامت او په خیر او شر کې د خدای پر تقدیر ایمان لرل.
او د علماوو په منځ کې اختلاف د دین په اصولو کې نه؛ بلکې په فروعو کې دی. او په فروعو کې دا اختلاف امت ته یو ډول رحمت دی؛ دا ځکه چې له ډیر پخوا څخه ویل شوي و، چې "د علماو د نظریاتو په منځ کې اختلاف یو غوره او نیك چار دی".
٥- پر اسلامي مذاهبو اعتراف په دې معنی دی، چې یو مسلمان په افتاْ او د شرعي احکامو په استنباط کې په ځانګړیو قواعدو باور ولري؛ نو ځکه روا نه ده څوك چې د فتوی ورکولو وړتیا او وس نه لري او په هر مذهب کې، چې د استنباط کومې لارې

چارې ښودل شوي پر هغه يې پوره برلاسي نه وي تر لاسه کړی فتوی ورکړي او همدارنگه روا نه ده، چې يو تن په مذهب کې د فتوی طريقه او منهج په پام کې و نه نيسي او فتوی ورکړي او پردې سربېره سمه نه ده، چې څوك د اجتهاد دعوا وکړي او له ځانه مذهب جوړ کړي او فتويگانې ورکړي، چې د مسلمانانو د شريعت له کړی نه او د شريعت له ثابتو قوانينو او قواعدو څخه ووځي، چې په اسلامي مذاهبو کې بنستيز شوي دي او په دين کې بدعت کېږ دي.

٦- د ١٤٢٥ د قدر په شپه کې، چې کومه بيانيه د عمان د هاشمينو په جومات کې وويل شوه؛ نو د هغی بيانيي لنډ مطلب دا و، چې اسلامي مذاهبواو د هغوی د قوانينو درناوی دی؛ نو ځکه د مذهبونو درناوی او دلاريانو ترمنځ يې خپلمنځي خبرې يوازېنی لاره ده چې منځلاري تضمينوي او د مسلمانانوو په منځ کې د مهربانی او دوه اړخيزه خبرواترو ته لاره اواروي.

٧- مونږ ټول دې ته را بولوو، چې خپلې گوندی او تربگنی دې شا ته واچوي د يو بل درناوي دې وکړي او د توحيد پر کلمه دې منگولې ولگوي او مسلمان دولتونه او ملتونه دي خپلمنځي اړيکې لاپسې پياوړې کړي، چې اسلامي امت يو موټی شي او

په خپل منځ کې دې وروروليي د "حب فی الله" په کړی کې پراخه او ژوره کړي او د اسلامي امت جرړې دومره پیاوړې کړي، چې په کې نه فتنه را منځ ته شي او نه په کې څوك لاس وهي.

۸- خدای تعالی وایي: مومنان سره وروڼه دي او تل د خپلو مسلمانانو ورونو په منځ کې سوله وکړئ، ښائی د خدای تر رحمت لاندې راشئ. (حجرات/۱۰)

**لاندې کسانو دا بیانیه لاسلیك کړی ده.**

**د افغانستان اسلامي جمهوريت**

۱- نصير احمد نور، په قطر كې د افغانستان سفير.

**اردن:**

۲- حضرت همايونى ابرغازى د محمد څوى د دويم ملك عبدالله سلاكار او ځانګړې استازې او د آل البيت د اسلامي فكر د مؤسسې د مجلس امنا مشر.

۳- ښاغلي شيخ عزالدين خطيب تميمى په اسلامي شؤنو كې د ملك عبدالله سلاكار او قاضى القضاى.

٤- استاد ډاكټر عبدالسلام عبادى د اردن د اسلامي اوقاف وزير.

٥- استاد ډاكټر عبد الاحمد هليلى د پاچا سلاكار.

٦- ښاغلي شيخ سعيد حجاوى د اردن مفتي.

۷- ښاغلي سيد عقل بلتاجى د پاچا سلاكار.

۸- ښاغلي استاد خالد طوقان د ښوونې او روزنې او لوړو زدكړو اوعلمي څېړنوو وزير.

۹- استاد ډاكټر خالد كركى، د آل البيت د اسلامي فكر مجلس امنا نائب مشر او د جرش ملى پوهنتون مشر.

۱۰- استاد ډاکټر اسحاق فرهان، د ښوونې او روزنې پخوانې وزیر د ملي الزرقا پوهنتون مشر.
۱۱- استاد کامل الشریف د نړیوال امداد د بلنې د اسلامي مجلس سرمنشي.
۱۲- ډاکټر عبد الطیف عربیات دغړیو د مجلس پخوانې مشر.
۱۳- ښاغلي عمید عبدالکریم سلیم سلیمان خصاونه د اردن د وسلوالوقواو و مفتي.
۱٤- ډاکټر عادل الطویسی، د آل البیت د ټولنې مشر.
۱۵- ډاکټر یوسف غیظان د دعوت او اصول دین دپوهنتون مشر.
۱٦- ښاغلي شیخ حسن سقاف د اسلامي فکر د موسسې او آل البیت د مجلس امناء غړی او د دارالامام الفروي د نشراتو مدیر.
۱۷- انجینر مدوان فاعوری، د فرهنگ او فکر دانجمن مشر.
۱۸- مېرمن نوال فارعوی اسلامي عالمه.
۱۹- ډاکټر عبدالناصر ابوالفضل د یرموك د پوهنتون د شرعیاتو د پوهنځي مشر.
۲۰- ښاغلي استاد بلال التل د اللواء د خپرونې د لیکپلاوی رئیس.

۲۱- ډاکټر طه سید غزمی دآل البیت د پوهنتون د فقهي او حقوقي څېړنو د پوهنځي مشر.

د آذربایجان جمهوریت:

۲۲- ښاغلي شیخ الاسلام الله شکور، د همت پاشازاده ځوی او د قفقاز د مسلمانانو د ادارې مشر

د آلمان جمهوریت

۲۳- ډاکټر مراد هومان، څېړونکې او پوهان او د المغرب په هېواد کې د آلمان پخوانی سفیر.

۲٤- شیخ صلاح الدین جعفراوی د سرمنشي مرستیال.

عربي متحد امارات

۲۵- ښاغلې علی بن السید عبدالرحمن الهاشمی په قضایي او دیني چارو کې د دولت د مشر ستر سلاکار.

د امریکا متحده ایالات

۲٦- ډاکټر یوسف لومبارد اسلامي پوه.

۲۷- شیخ فیصل عبدالرؤف د نیویارك د جومات امام.

۲۸- ډاکټر الجزید ماتسون په ردفورد پوهنتون کې د اسلامي برخو استاد.

۲۹- ډاکټر سليمان عبدالله شلايور د ادهم د مرکز د تلويزيون او مطبوعاتو مدير.
۳۰- ښاغلي سيد نهاد عوض د امريکا د اسلامي ارتباطاتو د مجلس عمومي مدير.

د اندونزيا جمهوريت

۳۱- مېرمن توني علوي عبدالله شافعي د اسلامي شافعي پوهنتون مشره.
۳۲- ښاغلي سيد الجان عبدالوهاب په اردن کې د اندونزيا سفير.

د ازبکستان جمهوريت

۳۳- ښاغلي شيخ محمد العادق محمد يوسف د ازبکستان عام مفتي.
۳٤- استاد يوسف ارتفبيك اسلامي متفکر.

د ايران اسلامي جمهوريت

۳۵- آيت الله محمد علي تسخيري د تقريب بين مذاهب اسلامي د نړيوالې ټولنې سرمنشي.
۳٦- حجت الاسلام والمسلمين ډاکټر محمود محمدی عراقي د ايران د سازمان فرهنگ او ارتباطاتو رئيس.

۳۷- ډاکټر سید مصطفی محقق داماد په ایران کې د علومو د اکاډمۍ مدیر په عدلیې وزارت کې قاضي او د عمومي تفتیش رئیس.
۳۸- ډاکټر محمد علي آذرشب، د عربو او ایران د ملګرتیا د ټولنې مشر.
۳۹- سید محمود مرعشی نجفی، په ایران کې د آیت الله مرعشی نجفي د عمومي کتابتون رئیس.
٤۰- سید مرتضی هاشمي د دایره المعارف د اسلامي د نړیوالو روابطو مشر.
٤۱- شیخ عباس علي سلیمانی، د ایران په شرق کې د امام استازې.
٤۲- سید غلام رضا میرزاي، د مشورتي شورا غړی.

د پاکستان اسلامي جمهوریت

٤۳- ډاکټر ظفر اسحاق انصاري، د اسلام آباد د اسلامي څېړنو د مرکز مدیر.
٤٤- ډاکټر رضا شاه کاظمي، اسلامي څېړونکی او متفکر.
٤٥- عارف کمال، اسلامي پوهان او متفکر او په اردن کې د پاکستان سفیر.

بحرين

٤٦- شيخ ډاکټر محمد علي الستری د عدليي وزير.

٤٧- ډاکټر فريد بن يعقوب مفتاح د شؤن د وزارت سر پرست.

برازيل

٤٨- شيخ علي محمد عبدوی په لاتينې امريکا کې د ځوانانو د نړيوال اسلامي انجمن استازې او د لبنان د جمهوريت د دار الفتوی رسمي استازې.

بنگله ديش

٤٩- ډاکټر عبدالحسن صادق د بنگله ديش د آسيا يي پوهنتون مشر.

بوسنيا هرزگوينيا

٥٠- ډاکټر مصطفی سيرتيش د هغه هېواد مفتي او د علماوو مشر.

٥١- استاد حسن ماکيش د بيسهاتش مفتي.

٥٢- استاد انس ابوکوليتس، څېړونکی.

تايلند

٥٣- ښاغلي دان محمد نورمائا، د دولت سلاکار.

٥٤- ښاغلي وليون خوساكول، په بغداد كې د تايلند سفير.

ترکيه

٥٥- ډاکټر اکمل الدين احسان اغلو د نړيوال اسلامي کنفرانس مشر.

٥٦- ډاکټر علي اوزاك د اسلامي علوموو د څېړنو رئيس.

٥٧- مېرمن ډاکټره معلى سلجوق د انقرى دشرعياتو د پوهنځي مشره.

٥٨- پروفيسر ډاکټر مصطفى شاگريجى د استانبول مفتي او د اسلامي فلسفې استاد.

٥٩- پروفيسر ابراهيم کافى دونى په مرمره پوهنتون کې د اسلامي فقهې استاد.

تونس

٦٠- ډاکټر هادى بکوش، د تونس د وزيرانو پخوانى رئيس.

٦١- ډاکټر ابوبکر خزوان د ديني چارو وزير.

٦٢- ډاکټر علي شابى د مجلس اعلاى اسلامي رئيس او د دينې چارو پخوانى وزير.

٦٣- استاد حبيب شيوب، ليکوال او تاريخپوه.

٦٤- ډاکټرعامرزمالی د صلیب احمر د نړیوال انجمن د نړیوالوو اسلامي چارو سلاکار.

الجزایر

٦٥- اخضر ابراهیمي د ملګروملتونو د سرمنشي ځانګړې استازی.

٦٦- ډاکټر ابو عبدالله بن حاج محمد آل غلام الله د اوقاف او دیني چارو وزیر.

٦٧- ډاکټر مصطفی شریف د لوړو زده کړو وزیر او په قاهره کې د الجزایر پخوانی سفیر.

٦٨- ډاکټر سعید یشبان د دیني چارو پخوانی وزیر.

٦٩- ډاکټر عمار طالبی د الجزایر په پوهنتون کې د فلسفې استاد.

جنوبي افریقا

٧٠- شیخ ابراهیم جابر بیلن د جنوبي افریقا د علماوو رئیس.

روسیه

٧١- شیخ داوی عین الدین د مسلمانانوو د دیني ادارې رئیس.

٧٢- ډاکټر سعید هیبت الله کامیلین د مسکو د اسلامي تمدن د بنیاد مدیر.

٧٣- ډاکټر مراد مرتا زین د مسکو د اسلامي پوهنتون رئیس.

۷٤- سید روشان عباس اف د روسيي د مفتیانو د مجلس د بهرنی اړیکو مدیر.

سعودي عربستان

۷۵- ډاکټر عبدالعزیز بن عثمان تویجری د اسلامي علومو او روزنې د سازمان مشر.

سنګاپور

۷٦- ډاکټر یعقوب ابراهیم د اسلامي چارو وزیر.

سنګال

۷۷- سید مصطفی سیسی د ولسمشر ځانګړی مستشار.

۷۸- استاد عبدالله باه د اسلامي روزنې او فرهنګ رئیس.

سوډان

۷۹- عبدالرحمن سوار ذهب، پخوانې ولسمشر.

۸۰- ډاکټر عصام احمد بشیر دارشاد او مذاهبو وزیر.

۸۱- ډاکټر محزالدین عمرموسی د ملك سعود په پوهنتون کې د تاریخ استاد.

سوریه

۸۲- ډاکټر شیخ احمد بد رحسون د سورئې عربي جمهوریت مفتي.

۸۳- ډاکټر محمد سعید رمضان البوطی اسلامي مبلغ.
۸٤- استاد ډاکټر شیخ وهبه مصطفی الزحیلی د دمشق د پوهنتون د اسلامي فقهې او اسلامي مذهبونو د څانګې رئیس.
۸٥- ډاکټر صلاح الدین احمد کفتاور د شیخ احمد کفتاور د ټولنې مدیر.

عراق

۸٦- سید عبد الصاحب خویي د امام خویي د مؤسسې مشر.
۸۷- سید محمد موسوی د اهل البیت د موسسې دنړیوالو اړیکو سرمنشي.
۸۸- شیخ احمد البهادلی اسلامي مبلغ.
۸۹- ډاکټر عبدالعزیز الدوای د اردن د پوهنتون د تاریخ د څانګې څېړونکی او تاریخپوه.
۹۰- ډاکټر بشار عواد معروف څېړونکی او د آل البیت د اسلامي فکر د موسسې غړې.
۹۱- شیخ عباس علی کاشف الغطا د کوفې په پوهنتون کې د اسلامې څېړنو د پوهنځي استاد.
۹۲- ډاکټر عبدالحمید النجدی اسلامي عالم.

۹۳- شیخ ولید فرج الله اسلامي د کوفې د پوهنتون د اسلامي څېړنو له پوهنځي څخه.
۹٤- ډاکټر احمد الکبیسی اسلامي عالم.
۹۵- استاد غانم جواد د امام خو یې د موسسی د فرهنګي چارو مدیر.
۹٦- سید محمد علاوی د اهل البیت د نړیوالو اسلامي ارتباطاتو نایب مدیر.
۹۷- استاد سعد الملاْ، اسلامي عالم.
۹۸- ډاکټر مصطفی عبدالله کمال الدین، اسلامي عالم.

عمان

۹۹- شیخ احمد بن محمد خلیلی، د عمان عام مفتي.
۱۰۰- شیخ احمد بن مسعود اسیايي، د سلطنتي مفتي د دفتر سرمنشي.

فرانسه

۱۰۱- شیخ دلیل ابوبکر په فرانسه کې د اسلامي شوری رئیس او د پاریس د جامع جومات امام.
۱۰۲- ډاکټر حسین رئیس د پاریس د جومات د فرهنګي چارو مدیر.

فلسطين

۱۰۳- شیخ ډاکټر عکرمه صبری د قدس او فلسطین عام مفتي او د اقصی د جومات خطیب.

۱۰٤- شیخ تیسبر رجب تمیمی د فلسطین قاضي القضات.

قطر

۱۰۵- ډاکټر شیخ یوسف قرضاوی د قطر د پوهنتون د سنت او سیرت د څېړنو د مرکز مدیر.

۱۰٦- مېرمن ډاکټره عایشه مناعی د قطر د پوهنتون د شرعیاتو د پوهنځي مشره

کاناډا

۱۰۷- شیخ نوح حامبم کلر اسلامي پوهان او څېړونکی او دآل البیت د اسلامي فکر د موسسې غړی.

کویت

۱۰۸- استاد ډاکټر عبدالله یوسف غنیم د کویت د څېړنوو د مرکز رئیس.

۱۰۹- ډاکټر عادل عبدالله فلاح د اسلامي چارو او اوقاف وزیر.

لبنان

۱۱۰- ډاکټر هشام نشابه د لوړو زده کړو د شورى رئيس د ښوونې او روزنې مسوول د اسلامي خيريه مقاصدو د ټولنې غړی.

۱۱۱- سيد هانى فحص د شيعه و د اعلا مجلس غړی.

۱۱۲- ډاکټر رضوان سيد د لبنان د پوهنتون د ادبياتو له پوهنځي څخه، د الاجتهاد د مجلى د ليکلپلاوي رئيس.

۱۱۳- استاد محمد سماك د اسلام او مسيحيت ترمنځ د ملي اسلامي خبرو اترو د انجمن مشر.

۱۱٤- جعفرى شيخ اسد الله حدشى، په شيعه اسلامي اعلا مجلس کې شرعي قاضي.

۱۱۵- شيخ حسين فرهاد له شيعى اسلامي اعلا مجلس څخه.

۱۱٦- شيخ خليل المهيس د زحله البقاع غربي مفتي.

ليبيا

۱۱۷- استاد ابراهيم ابو د نړيوالې اسلامې بلني په ټولنه کې د سيمينارونو د دفتر مدير.

۱۱۸- ډاکټر عجيلى فرحات ميرى د خلکو د مشرۍ نړيوالى اسلامي غونډې د خبرو اترو د چارو مسؤل.

مالديو

۱۱۹- ډاکټر محمد شوقی د ښونې او روزنې وزير.

مالیزیا

۱۲۰- میهن دوکا ډاکټر عبدالحمید عثمان وزير.

۱۲۱- ډاکټر محمد هاشم کمالی د نړیوالې مفکورې د ښوونې او اسلامي تمدن د ټولنې رئيس.

۱۲۲- سید شهیدان قاسم د مالیزیا د برانس د ایالت وزير.

۱۲۳- سید خیری جمال الدین د مالیزیا د وطني متحده سازمان د ځوانانو د برخې نائب رئيس.

مصر

۱۲٤- ډاکټر محمد صمدی زقزاق د اوقافو وزير.

۱۲۵- ډاکټر علی جمعه د مصر مفتي.

۱۲٦- ډاکټر احمد محمد احمد طیب د الازهر پوهنتون رئيس.

۱۲۷- ډاکټر احمد کمال ابو المجد اسلامي عالم او د اطلاعاتو پخوانی وزير.

۱۲۸- ډاکټر محمد احمدی ابو النور د مصر د اوقافوو پخوانې وزير او د اردن د پوهنتون د شرعیاتو د پوهنځي استاد.

۱۲۹- ډاکټر فوزی زقزاق د آسماني اديانو د خپل منځي خبرو اترو د سمينار مشر او د اسلامي څېړنو د ټولنې غړی.
۱۳۰- ډاکټر حسن حنفی د قاهری په پوهنتون کې د فلسفې د څانګې څېړونکی او اسلامي عالم.
۱۳۱- ډاکټر محمد محمد کحلاوی.
۱۳۲- ډاکټر ايمن فواد سيد د دار الکتب المصريه پخوانی مدير.

متحده امارات

۱۳۳- ډاکټر عباس مهاجراني د امام خو يي د خيريه مؤسسې غړی.
۱۳٤- سيد سهيل ناخدا د اسلاميکا د مجلې د ليکپلاوی غړی.
۱۳۵- سيد شمس فيلانی اسلامي عالم.
۱۳٦- ډاکټرفرهد دفتری اسلامي عالم.

مراکش

۱۳۷- ډاکټر عباس جواهر د پادشاه سلاکار.
۱۳۸- ډاکټر عبدالهادی ابوطالب د مغرب د اکاډمۍ غړی.
۱۳۹- ډاکټر محمد فاروق بنهان د دارالحديث حسينيه پخوانې مدير.
۱٤۰- ډاکټر عبدالهادی بو طائب د پادشاه پخوانې سلاکار.

۱٤۱- ډاکټر احمد شوقی بنین د حسینیی دکتابخانې مدير.
۱٤۲- ډاکټر بخات مرنیی د محمد خامس د پوهنتون د عربی ځانګې استاد.
۱٤۳- ډاکټر عبدو القیلالی الانصاری اسلامي عالم.
۱٤٤- شیخ غلام محمد د شنې سپوږمۍ رئیس او مشر.
۱٤٥- پروفیسور رائنس شقفه د دیني اسلامي پلاوي رئیس.

د نایجریا جمهوریت

۱٤٦- حضرت همایونی حاجی آدوبابرو امیرکانو.
۱٤٧- سید سلیمان اُوشیو د افریقا د اسلامي کنفرانس مشر.

هندوستان

۱٤۸- امیر جعفر صادق مفضل سیف الدین اسلامي عالم.
۱٤۹- امیر طه سیف الدین اسلامي عالم.
۱٥۰- ډاکټر سید اوصاف علی د هامدارد د پوهنتون رئیس.
۱٥۱- ډاکټر اخترالواسع د سیول د اسلامي څېړنو د اداری اود الغات د انساني علومو د پوهنځي مشر او د ذاکر حسین د اسلامي پلټنو مدير.

## یمن

۱۵۲- ډاکټر حسین عمری د مشورتي شوری غړی د یونسکو د اجرایي شوری غړی او په صنعا پوهنتون کې د معاصر تاریخ استاد.

۱۵۳- شیخ ابراهیم بن محمد الغدیر د حرکت توحید او عمل اسلامي سرمنشي.

۱۵٤-شیخ حبیب علی جعفري عالم او مبلغ.

# د یو لیك ژباړه او ځواب یې

حجت الاسلام سید خسرو شاهي د تقریب په اړه د مصر پخواني مفتي ښاغلي نصر فرید واصل ته یو لیك لیږلی، چې هغه هم ورته لیکلي ځواب ورکړی دی. مونږ گرانوو لوستوونکیو د دې دواړو لیکونو لنډیز ته واړندې کوو:

فضلیت ماب ښاغلي شیخ محمد فرید نصر واصل د اسلامي څېړنو مرکز، السلام علیکم!

دا چې تاسې د تدریس، ښووني، گ لیکنې او افتاء په برخه کې د پام وړ گامونه گاللي له تاسې څخه د زړه له کومې نه مننه کوم. لاندې څو پوښتنې لرم، چې د ډېرو مسلمانانو پام یې را اړولی دی.

۱- تاسې د اثنی عشري جعفري امامیه مذهب په هکله څه نظر لرئ؟

په ځانگړې توگه د الازهر ځینو شیوخو لکه سلیم بشری، ډاکټر فاضل محمد فحام او ډاکټر عبدالحلیم محمود فتویگانې ورکړې او حکم یې کړی، چې امامیه مذهب د اسلامي مذهبونو له ډلې څخه دی او په دې فتوی گانو کې په ډاگه ویل شوي،

چې له اثنی عشری جعفري مذهب څخه لاروي کول لکه د نورو مذاهبو په شان جائز دي.
د مصر د اسلامي څېړنو ټولنې هم دا شان فتوی ګانې ورکړي د دې مشایخو د فتویګانو او په ټولیزه توګه په دې برخه کې ستاسې نظر څه دی؟
۲- د تقریب بین مذاهب اسلامي په هکله ستاسې نظر څه دی؟ او د مسلمانانو د عمومي مصلحت لپاره یې څرنګه پیاوړی کړو؟
۳- کله نا کله په عربي ښارونو او پـه ځینـو عـربي هېوادونـو کـې داسې کتابونه چاپېږي او همدارنګه پـه انترنـت کـې هـم داسـې خپرونې تر سترګو کېـږي، چې د اسـلامي مذاهبوپـه منـځ کـې تاوتریخوالی او اختلافاتو ته لمن وهي او د شیعه او سني په منځ کې د اړیکو د خرابولي په موخه د دروغـو اوازې خپـروي چـې پایله یې په ځینو اسلامي هېوادونو کې د همدې شخړو لـه املـه مسلمانان یو بل وژني د داسې خپرونو په هکله ستاسې نظر څـه دی؟
او د هغو کسانو په هکله ستاسې نظر څه دی، چې د اسلامي امت له یو والي څخه یي لوبه جوړه کړی؟

د مصر د عربي جمهوريت د پخواني مفتي او د الازهر د يو عالم په حيث د داسې ورانكارو كړو وړو پر وړاندې ستاسې نصحيت څه دی؟ پر تاسې دې د خدای رحمت او بركت وي.

سيد هادی خسرو شاهي

په ايران كې د قم د علمي حوزې د اسلامي څېړنو د مركز رئيس.

قاهره د ١٤٢٦ د شعبان المعظم (٢٩) مه

## د ليك ځواب

"محترم سيد هادي خسرو شاهي په ايران كې د قم د علمي حوزې د اسلامي څېړنو د مركز رئيس او په مصر كې د ايران سفير پر تاسې دې د خدای رحمت او بركت وي. "

١- د دولس گوني جعفري اماميه شيعه په هكله زما نظر هم د هغو علماوو په شان دی، چې تاسې يې په ليك كې يادونه كړې وه، لكه شيخ محمود شلتوت، شيخ سليم بشری، ډاكټر محمد فحام او ډاكټر عبدالحليم محمود او دا (د نظرونو يووالي) له دې كبله دی، چې (اماميه مذهب او نور اسلامي مذهبونه) په اسلامي اصولو او علومو كې يوه خوله دي او اختلاف يوازې په

فقهي فروعو کې دی او په دې اړه په ټولو مذاهبو کې اختلاف شته او د فقهې او تشريع په کړی کې ډول ډول عمل کول کوم باك او زيان نه لري؛ خو شرط يې دا دی چې له څرګندو او غوڅو شرعي نصوصو، قرآن او سموصحيحو نبوي سنتو سره متناقض نه وي. د جعفري اماميه شيعه مذهب مونږ له همدې مذاهبو له ډلې څخه ګڼو او مونږ پرې متدين يو او فقهي څېړنې، بحث، قضا او فتوی يې منو او ورته غاړه ږدو.

د اسلامي فقهي مذاهبو د نژدېوالي په باب (بايد ووايم) دا يوه مهمه موضوع ده او پر هر مسلمان او په ځانګړې توګه پر مسلمانو عالمانو او مجتهدو فقهاوو باندې واجب دي، چې د ډول ډول علمي، څېړنيزو او فرهنګي لارو اسلامي امت يو موټی وساتي او مسلمانان دې ته وهڅوي، چې پر يوې کلمې منګولې ولګوي او په دنيوي او ديني چارو کې اسلام ته مخه کړي او مسلمانان د قرآن او نبوي سنتو په رڼا کې پر تلپاتې شريعت عمل کولو ته وهڅوي.

د اسلامي امت دښمنانو په تېر او اوسني وخت کې او همدارنګه د اسلام په تاريخ کې د مسلمانانو په منځ کې د هر ې فقهي اختلافاتو ته ډېره لمن وهلې. اسلام په اصولو کې نه؛ بلکې په

فروعو کې فقهي اختلافاتو ته اجازه ورکړې ده؛ نو د اسلامي امت دښمنان د مسلمانانو د بې لارې کولو په موخه د مسلمانانو لیکو ته ورننوتل او د تاریخ په ځینو پړاونو کې یې حکومتونه په سیاسي اړخ کې دې ته اړ کړل، چې د نورو اسلامي مذاهبو پر پلویانودباو راوړي او خپل سیاسي او فقهي مخالیفین د دین د مخالفینو په نامه وټکوي او په نړۍ کې د مسلمانانو نوم بدکړي او د مسلمانانو په منځ کې یې د نفاق تخمونه وشیندل او همدې کار په اسلامي هېوادونو کې ښکیلاك ته لاره اواره کړه او پر مسلمانانو، کفار واکمن شول. او نوي ښکیلاك نن په علمي، فرهنګي او اقتصادي اړخ کې یو ځل بیا پر مونږ بر لاسی شوي او څو هېوادونه یې هم په لاس کې دي. او پر نورو اسلامي هېوادونو د واکمنۍ هوډ هم لري.

د دې ګواښ د لرې کولو یوازینۍ لاره دا ده، چې مسلمانان باید دیني، فرهنګي او سیاسي یووالي ته غاړه کېږدي او په دې لړ کې ناغیړي کول جایز نه دی؛ ځکه خدای وایي: "واعتصموا بحبل الله جمیعا ولاتفرقو" او حضرت پیغمبر اکرم (صلی الله علیه و آله) وایي: "ید الله مع الجامعه و من شذ، شذ فالنار" او که د اسلامي مذاهبو لاریانو په منځ کې همغږي او نژدیوالی ونه

شي؛ نو پايله به يي د مسلمانانو خپل منځي شخړې او تربګنۍ وي، قرآن له شخړې څخه د لرېوالي په هکله وايې: "و لا تنازعوا فتفشلوا و تذهب ريحکم"

ستاسي د درېيمې پوښتنې په ځواب کې بايد ووايم زه هم ستاسې په شان پوره يقين لرم، چې د اهل سنت او جماعت او شيعه مذاهبو دلاريانو په منځ کې هغه اختلافي مسائل، چې په فقهي فروعو پورې اړه لري، ورته لمن وهل شرعا جايز نه دي؛ ځکه اسلامي شريعت د دين د فروعو په برخه کې اختلاف د يو اجتهادي منهج په حيث مشروع ګڼلی او حضرت پيامبر اکرم (صلی الله عليه و آله) په دې هکله وايي: "من اجتهد فاصاب فله اجران و من اجتهد فأ خطا فله اجر" څوك، چې اجتهاد وکړي او واقع ته ورسي دوه اجرونه لري او که څوك اجتهاد وکړي او تېرو ځي؛ نو يو اجر لري. "همدارنګه حضرت پېغمبر اکرم (صلی الله عليه و آله) وايي:

کل مجتهد مصيب" هر مجتهد مصيب دی.

اصحابانو اجتهاد وکړ؛ نو ځکه په کې اختلاف را منځ ته شو او هر صحابي د خپل اجتهاد له مخې عمل وکړ او حضرت پېغمبر اکرم (صلی الله عليه و آله) يې اجتهاد لاسليك کړ او په هغه

وخت کې هېڅ چا هم پر يو بل دا چار يو عيب او نېمګړنه ونه ګڼه.

د مذاهبو نومونونه (حنفي، مالکي، شافعي، حنبلي، زيدي او جعفری)، چې مشهور شوي د دين له اصولو څخه نه دي، چې په هکله يې له قرآن او سنتو څخه قطعي يا ظني نصوص راغلي وي او مسلمانان ترې پر لاروۍ مکلف شوي وي؛ بلکې دا نومونه عرفي او اصطلاحي بڼه لري او د مذهب د خاوند پر نامه مشهور شوي دي، په داسې حال کې، چې د ټولو مسلمانانو لپاره اصل حکم او مصدر "شريعت" دی، چې له معتبرو نصوصو څخه استنباطيږي؛ نو ځکه د ټولو اسلامي مذاهبو "تشريعي" اصل يو دی او هغه د خدای وحې قرآن او صحيح سنت دي. که څوك داسې عقيده ولري، چې له مذهب نه وتل شرعا منعې دي؛ نو دا يوه ناسمه عقيده او يو ډول تېروتنه ده، چې د اسلام دښمنانو خپره کړی او ورته لمن وهي.

کوم کتابونه او خپروني، چې په انترنټ کې د سني او شيعه په منځ کې د اختلاف تخم شيندي؛ نو دا يو ډول خطرناکه وژونکي وسله ده، چې پر ټولو مسلمانانو کار ول کيږي او دا پر ټولو حکومتونو، ملتونو د قلم او نظر پر خاوندانو واجبه ده،

چې له ټولو قانوني لارو او وسیلو څخه په ګټه اخستنې سره یې مخنیوی وکړي.

## ډاکټر محمد فرید نصر واصل

د مصر پخوانې مفتي د اسلامي څېړنو د مجمعې غړې او په جامعه الازهر کې استاد.

قاهره ١٤٢٤ س د رمضان د میاشتې ١٢ مه.

# د ليکونکي خبره

پام مو وي چې د شيخ ډاکټر محمد فريد ليك ډير اوږد و او مونږ يې لږه برخه وژباړله که څوك غواړي، چې دا دواړه ليکونه پوره ولولي؛ نو لاندې مجله دې و لولي:

رساله التقريب

٤٥ گڼه، ١٤٢٥ س (٢٠٠٤ز)

د رمضان او شوال مياشت، له **٢٢٥** څخه تر **٢٣٤** مخ پورې. دا مجله د تقريب بين مذاهب اسلامي له نړيوالې ټولنې څخه خپرېږي.

هيله من يو چې دا فکر د افغانستان په ديني علماوو کې هم خپور شي او عملي بڼه ومومي؛ ځکه په اوسني وخت کې زمونږ هېواد ورورولی او ملي يووالي ته ډېرتنګه اړتيا لري.

و الله من وراء القصد

## د الازهر پوهنتون د شیخ محمود شلتوت د هغه فتوی متن، چې له امامیه شیعه مذهب څخه لاروي یې جایزه ګڼلې ده

"ان مذهب الجعفریه المعروف بمذهب الشیعه الاثنی عشریه، مذهب یجوزالتعبد به شرعا کسایر مذاهب اهل السنته فینبغی للمسلمین ان یعرفوا ذلک و ان یتخلصوا من الصبیه بغیر حق لمذاهب معینه فما کان دین الله ما کانت شریعته، بتابع لمذهب معین او مقصوره علی مذهب فالکل مجتهدون مقبولون عندالله تعالی".

ژباړه: "اثنا عشری شیعه مذهب چې په جعفري مذهب یادیږي، یو داسې مذهب دی، چې د اهل سنتو د نورو مذاهبو په څېر شرعا غوره کېدای شي، مسلمانانو ته پکار دي، چې په دی پوه شي او له کوم مذهب سره له ناروا تعصب نه ډډه وکړي. د الله تعالی جل جلاله دین او شریعت نه د کوم مذهب تابع او نه په انحصار کې دی (د مذهب امامان) ټول مجتهدان دی او ټول د الله تعالی په دربار کې منلی دی. "

**پوښتنه:** ځيني خلك په دې عقيده دي، د دې لپاره، چې عبادتونه او معاملې يې صحيح او په سمه توگه سرته رسولې وي؛ نو د څلورگونو مشهورو مذاهبوله احكامو څخه بايد لاروې وكړي په دې څلورگونو مذاهبو كې د اماميه شيعه او زيديه شيعه نوم نه دى اخستل شوى. آيا تاسې دا نظر په پوره توگه منئ، چې له اماميه او زيديه مذاهبو څخه لاروي له دين سره ضديت نه لري؟

**ځواب:** اسلام خپل پلويان له يو ځانگړي مذهب څخه پر لاروی نه دي اړكړي؛ بلكې هر مسلمان كولاى شي، چې د هر مذهب له احكامو څخه، چې په صحيح توگه روايت شوى وي لاروي وكړي او څوك، چې د دې څلورگونو مذاهبو لارويان وي، كولاى شي بل مذهب ته هم واوړي.

جعفرى مذهب چې په اثنى عشري امامي مذهب مشهور دى د نورو اهل سنتو مذاهبو په شان ترې لاروي شرعا جايز دي؛ نو ځكه مسلمانان بايد پردې حقيقت پوه شي او د يو ځانگړي مذهب پر وړاندې بايد تعصب ونه لري؛ دا ځكه د خداى دين او د هغه شريعت په يوه ځانگړي مذهب پورې نه دى تړل شوى

او د یو ځانګړي مذهب په انحصار او احتکار کې به هم را نه شي.

د ټولو مذاهبو خاوندان مجتهدین دي او اجتهاد یې د لوی خدای په دربار کې قبول دی. څوك چې د نظر او اجتهاد خاوندان نه دي؛ نو کولای شي له هر مذهب څخه تقلید او له فقهي احکامو څخه یې لاروي وکړي، په دې ځای کې د عبادتونو او معاملو په منځ کې کوم توپیر نه شته.

د محمود شلتوت لاسلیك

**ښاغلی استاد محمد تقي قمی د تقریب بین مذاهب اسلامي د ټولنې مشر**

السلام علیکم ورحمه الله و برکاته !

خپله یوه لاسلیك شوي فتوی ستاسې درانه حضور ته درلیږم، چې په کې له امامیه شیعه مذهب څخه لاروي جایز ګڼل شوي.

هیله من یم، چې دا د دارالتقریب بین مذاهب اسلامي په ارشیو کې وساتی چې زه یې هم له بنسټ ایښودونکیو څخه وم.

خدای دې مونږ ته د دې مؤسسې د رسالت د مخکې وړلو توفیق راکړي.

السلام علیکم ورحمه الله

شیخ جامع الازهر محمود

## د فتوی په ورکړه کې شیخ محمود شلتوت انګېزه

۱- خدای بخښلې میرزا خلیل کمره یي لیکي:

له یوه پلاوي سره مصر ته تللی وم او له شیخ محمود شلتوت سره مې دوه ځلې ولیدل. یو ځل په الازهر پوهنتون کې او په بل ځل مې ورسره د هغه په کور کې ولیدل.

په دې لیدنه کې هغه مونږ ته له ډېرو پټو څیزونو څخه پرده پورته کړه، او هغه دا چې په ختیځوهېوادونو او په تېره بیاپه اسلامي مذهبونو کې یې د پردیو له لاسوهنې پرده پورته کړه هغه وویل: "ما له ډېر پخوا، کابو دېرش کالو مخکې د امامیه فقهې د لاس ته راوړو په لټه کې وم او له ایران او عراق څخه مې د امامیه فقې کتابونه را وغوښتل په دې روستیو وختونو کې، چې مصر د ښکیلاك له جغ نه راووت؛ نو کتابونه به نه را رسېدل او هغه به سانسور کېدل. د کانال له فتحې څخه روسته ستاسې کتاب راغی، هغه مې ولوست او پر ما نوره غاړه خلاصه شوه او پرته له دې نه، چې د کوم مقام او یا خبرې تر اغېزې لاندې راغلی وم دا فتوی مې ورکړه[٤٤]."

---

[٤٤] وګورئ: کتاب حج و قبله میرزا خلیل کمره یي، ۱۳۲/۱۳۰ مخ او رابطه عالم اسلام ناصر الدین کمره یي، ۷ مخ.

۲- شيخ محمد جواد مغنيه وايي:

يو ځلې مصر ته لاړم او له علامه شلتوت سره مې وليدل او دالازهر نور مخور مشران هم ورسره ناست وو، له جعفري مذهب څخه د لاروۍ د فتوی په هکله مې ورنه پوښتنه وکړه ! و يې وويل: خدای پوهيږي، چې د دې فتوی په ورکړه کې ما کومه سياسي او ټولنيزه انگيزه نه لرله، ما د جعفري اماميه شيعه فقهي احکام تر څيړنې او شننې لاندې ونيول او ومې ليدل چې د دې فقهې دليلونه له ځانگړي قوت، متانت او ظرافت څخه برخمن دي؛ نو ځکه ما له اماميه جعفري شيعه مذهب څخه پر

---

[ يادونه: د الازهر هغه ستر شيخان او استادان، چې د دې فتوی سريزې او لارې چارې يې چمتو کړي او هم يې تائيد کړي دا دي:

شيخ محمد عبده، شيخ سليم بشری، شيخ عبدالحميد سليم شيخ محمد محمود شلتوت، شيخ احمد باقوری، شيخ حسن مامون، شيخ ډاکټر محمد فحام، شيخ ډاکټر عبدالحليم محمود، شيخ عبدالرحمن بيصار، شيخ احمد شرباصی، شيخ محمد محمد مدنی، شيخ علي حنيف، شيخ عبدالعزيز عيسی، شيخ حسن البنا، شيخ عبدالرحمن النجار، شيخ عبدالواحد وافی، شيخ عبد الطيف، شيخ محمد بوريه، شيخ عبدالوهاب، شيخ عطيه حضر، شيخ السيد سابق، شيخ محمد متولی شعراوی، شيخ محمد غزالی، شيخ عفيف عبدالفتاح طباره، ډاکټر نصر فريد واصل. ]

لاروۍ فتوی ورکړه او خپله ما هم په ځینو فقهي مسائلو کې د جعفري مذهب د فقې پر بنسټ فتوی ورکړي ده.
له دې نه روسته شیخ شلتوت ناستو کسانو ته وویل: تاسې باید د جعفري امامیه شیعه کتابونه په ډېر غور او ځیرنه سره ولولئ.[٤٥]

---

٤٥ وګورئ: تقریب مذاهب اسلامي، آیت الله محمد ابراهیم جناتی، پنځمه ګڼه، ٤٤ مخ.

## د الازهر د شیخ محمود شلتوت فتوی شیخ محمد متولی د الازهر د
## حج او اوقافو وزیر هم تائیده کړې ده

"دولس ګوني امامیه شیعه چې مشر او امام یي امام جعفر الصادق بن محمد بن زین العابدین بن الحسین بن علی بن ابی طالب دی، چې د امام ابوحنیفه رضی الله اجمعین په استادانو کې هم راځي. دې ډلې ته امامیه جعفري شیعه وایې او له دې مذهبه د لاروي فتوی او اجازه د الازهر مشر شیخ محمود شلتوت هم ورکړې او د فتوی د علت په هکله یې وایې:

امامیه شیعه له اسلامي مذاهبوڅخه دی، چې له پېژندل شویو اصولو او مصادرو څخه برخمن دی او د مؤمنانو له ګډې لارې څخه لاروي کوي."

هو ! په مصر کې د دولس ګوني امامیه جعفري، ځیني فقهي احکام په شخصیه احوالو او د طلاق په ځینو حکمونو او په میراث کې د واجب وصیت په هکله هم کارول کیږي[٤٦].

## د شیخ محمود شلتوت فتوی دالازهر شیخ ډاکټر

[٤٦] وګورئ: الاهرام ورځپاڼه، د مصر چاپ، ۳۲۹۳۲ ګڼه-۱۰۳ کال

## محمد فحام هم تائید کړی ده

زه له هغو کسانو څخه یم چې شیخ محمود شلتوت ته په درنه سترګه ګورم، هغه د غوره اخلاقو خاوند دی، پراخ علم لري او په ادبیاتو او د قرآن په تفسیر کې او همدارنګه په فقهي څېړنو کې د نظر خاوند دی او کومه فتوی ( له امامیه شیعه مذهب څخه لاروي) یې چې ورکړې؛ نو زه په کې هېڅ شك نه لرم؛ بلکې داسې به ووایم، چې هغه زما د اعتقاداتو پر بنسټ فتوی ورکړی ده. په حقیقت کې پر مونږ اړینه ده، چې یو موټې شو.

" واعتصموابحبل الله جمعیا و لاتفرقوا

زه ډېرو اسلامي هېوادونو ته لاړم او له اسلامي علماوو سره مې ولیدل او دوی ټول ډېر یووالي او نږدېوالي ته لیوال دي او له خدایه غواړم، چې مسلمانان په اوسني وخت کې یو موټی شي.

محمد الفحام شیخ الازهر

۲۱/ م ذی القعده / ۱۳۹۷ س

## د شیخ عبدالحلیم محمود تائیدیه

شیخ عبدالحلیم محمود د دارالتقریب له ملګرو څخه او د تقریب د مجلې رساله الاسلام له لیکوالو څخه دی.

کله چې هغه د الازهر مشرو؛ نو په رسمي توګه یي اعلان وکړ، چې مونږ له امامیه او زیدیه ورونو سره پوره دوستي لرو او مونږ اوس په یو داسې پړاو کې یو چې خلك باید یووالي او ورورولۍ ته را بولو او که څه پیښن هم شي؛ نو مونږ او تاسې یي باید سم کړو او په ګډه به ټول د ورورولۍ، سولې او مینې په لور روانیږو. په "مذکره التوحید" کتاب کې چې د تفرقې کومه کلمه راغلې هغه به انشاء الله اصلاح شي او هیله لرو، چې تاسې به هم هلته ورته هلې ځلې وکړئ. (او په کتابونو کې باید د تفرقې مطالب خپاره نه شي. ) څوك چې د یووالي لپاره هلې ځلې کوي؛ نو خدای دې پرې ورحمیږي.

**استاد عفیف عبد الفتاح طباره هم د شیخ**

## محمود شلتوت فتوى تائيده کړې ده

"ډېر د خوشالۍ ځای دی، چې شل کاله مخکې د تقریب بین مذاهب اسلامي بلنه را منځ ته شوه، د سني او شیعه مذاهبو شعار په کې دا و: ان هذه امتکم امه واحده و انا ربکم" دې بلنې غوره پایلې لرلي دي مونږ وینو، چې په الازهر کې د اسلامي مذاهبو، شیعه او سنی فقه له تعصب پرته د دلیل او برهان پر بنسټ تدریس کیږي. د دې بلنې بله پایله په قاهره کې د اسلامي څېړنیزې ټولنې جوړول و، چې په کې د اسلامي مذاهبو مختلفو استازیو ګډون کړی و. همدارنګه د دې بریالیتوب یوه بله پایله د الازهر د شیخ محمود شلتوت فتوی ده، چې له شیعه امامیه مذهبه لاروي يې جایز ګڼلی ده.

## د شیخ محمود شلتوت فتوی د مصر د اخوان المسلیمن د ټولنې مشر علامه محمد الغزالی هم تائیده کړی ده

زه په دې معتقدیم، چې د شیخ شلتوت دا فتوی د ټولو واکمنو او با اخلاصه علماوو لپاره دتمې ځای دی او یو ستر قدم ګڼل کیږي، او د هغو مستشرقینو پر خولو د خاورې اچول دي، چې د امت یووالي نه شي زغملای او تل په کې د تربګنۍ او کینې د تخم دشیندلو په تکل دي. زما په اند دا یو ستر قدم دی. چې مسلمانان د اسلام تر بیرغ لاندي راټولوي اسلام خدای بشپړ کړی او د یو دین په توګه یي مونږ ته غوره کړی دی.
همدارنګه دا پر هغه لاره د تګ لومړی قدم دی، چې مسلمانانو ته یو ځل بیا عزت او سر لوړي وربخښي او پر ټولو نړیوالو د رحمت د نازلیدو لامل هم ګرځي.
په غوخه توګه، بد بیني او خرافات، سني او شیعه شاتګ ته اړ باسې اختلاف او تربګني مونږ ټول د ژوند له حقیقت څخه لرې کوي. دنیا په چټکۍ سره د آزادۍ پر لورې منډې وهي او د مادیاتو پر پوړیو پورته ورخیژي او روسته پاتیو خلکو [هغوی،

چې يو له بل سره تربګنۍ او اختلافونه لري ] ته دنورو موجوداتو په سترګه ګوري[٤٧].

**د الازهر د استاد شيخ عبدالوهاب عبدالطيف تاييديه**

اسلامي فقه د ټولو مکلفيتونو لپاره يو واحد شريعت دی، چې د ټولو اسلامي هېوادونو خلك ترې د اختلاف د نظر په لرلو سره لاروي کوي. دا به ډېره ښه وی، چې شيعه او سني خپل معلومات سره تبادله کړی وي. د فقهې دا دوه سمندرونه سره يو ځای شوي وي او ترې دوه مرغلرې را پيدا شوي وي.[٤٨]

[٤٧] وګورئ: رساله الاسلام، يولسم کال – ځلورمه ګڼه

[٤٨] ر

## د مصر د اوقافوو پخواني وزير شيخ باقوري تائيديه

د سني او شيعه په منځ کې، چې کوم اختلاف دی؛ نو د هغې اصلي لامل دا دی، چې دا دواړه ډلې د يو بل له فقهو څخه بې خبره دي. که د شيعه فقه په سنيانو کې خپره شي او د سنيانو فقه په شيعگانو کې خپره شي؛ نو دا د اختلاف د له منځه وړلو يوه غوره وزله ده. که له دې روسته هم کوم اختلاف وي؛ نو د يو بل له درناوۍ سره به وي.[٤٩]

[٤٩] وگورئ: مقدمه ی کتاب مختصر النافع فی الفقه الامامیه، چاپ فاهره

## د مصر مفتی ډاکټر نصر فرید هم د شیخ شلتوت فتوی تائیده کړی ده

لکه څرنگه چې مسلمان د نورو څلورگونو مذاهبوله مخې نه د خدای عبادت کوي؛ نو غوره ده چې د امام جعفر صادق د شیعه مذهب له مخې هم عبادت تر سره کړي. کوم اختلافات چې پر شیعه و دگوتنیونې لامل گرځي، ټول بې بنسټه دي. لکه څرنگه چې د احنافو او حنبلیانو دمذاهبو ترمنځ هم اختلاف شته چې یو ډول طبیعي اختلاف گڼل کیږي؛ نو همدا شان د شیعه مذهب او نور مذهبونو په منځ کې هم طبیعي اختلاف شته. د مثال په توگه شیعه د پنځو وختونو پر ځای درې وخته لمونځ کوي، د سهار لمونځ کوي، د ماسپښین او مازیگر یو ځای کوي او د ماښام او ماسخوتن سره یو ځای کوي. د مالکي مذهب مفتي هم دا شان اجازه ورکړی ده؛ نو له دې نه دا جوتیږي، چې په ځینو اختلافي مسْلو کې د اهل سنت ځینې مذهبونه له شیعه و سره یوه خوله دي.

او یوازېنی اختلاف دا دی، چې شیعگان متعه یا لنډمهاله واده جایز اونور مذهبونه یې حرام گڼي."

دا چې له شیعه مذهب څخه لاروي جایز دي؛ نو په دې اړه د مصر مفتي شیخ نصر فرید او محمود شلتوت سره یوه خوله دي.[٥٠]

## د شیخ محمود شلتوت فتوی د الازهر شیخ جاد الحق هم تائید کړی ده

مونږ اهل سنتو به پخوا په خپلو کې یو بل تکفیرول؛ خو نن دې تعصبونو ته د پای ټکې کېښودل شو او مونږ ټول یو بل پر حق ګڼو او د تقریب بین مذاهب اسلامي بلوونکي او د دارالتقریب یاران په همدې لاره کې هلې ځلې کوي، چې د شیعه او سني په منځ کې د دوستۍ او سولې روحیه ټینګه شي او د شیخ شلتوت فتوی د دې روحیې یوه بېلګه ده.[٥١]

---

[٥٠] وګورئ: الدستور، قاهره، ١٨ فبروری / ١٩٩٨ او د التقریب رسالی ١٩ او ٢٠ ګڼه، ٤٤ مخ

[٥١] وګورئ:آیت الله واعظ خراساني، تداءالوحده و التقریب، ٢٤٦ مخ.

# د کتاب د پای خبره

له خدایه غواړو، چې ټولو مسلمانانو او په ځانګړې توګه په افغانستان کې د اسلامي مذهبونو درنو عالمانو او همدارنګه د نورو اسلامي هېوادنو عالمانو ته دا توفیق ورکړي، چې دا باارزښته اسلامي فتوی ومني او پلي یې کړي. ان شاء الله.

د کتاب ځانګړنې: ...................................................................... ۳
سریزه ........................................................................................ ۹
په اسلام کې د مذهبونو جرړه ............................................................ ۱۳
د شیعه او سني ګډ ټکي ................................................................... ۱۸
د شیعه او سني ترمنځ اختلافي ټکي.................................................... ۲۶
نهو اختلافي ټکیو ته دویمه کتنه ........................................................ ۲۹
(ب) فقهي فروعات ........................................................................ ٤۵
قضاوت ...................................................................................... ٤۷
د یووالي بنسټیزه لار ....................................................................... ٤۹
د پای خبرې ................................................................................ ۵۰
په صحاح سته و کې د اهل بیتو مقام .................................................... ۵۲
د شیعه و په احادیثو کې د اصحابو مقام................................................ ۵۲
خپلې خبرې ................................................................................ ۵٤
ناصبي، غالي او کفار ...................................................................... ۵۷
دننني لامل................................................................................... ۵۸
راپارونکې او بنسټیزه موضوع ............................................................ ٦۱
په قرآن مجید کې د اهل بیتو ............................................................. ٦۳
او اصحابو مقام.............................................................................. ٦۳
د اهـــل سنتو په احادیثو کې د اهل بیتو مقام ......................................... ٦۵
د شیعه و په روایتونو کې د ا صحابو کرامو مقام ....................................... ۸٤
د اسلامي امت د یووالي پلي کول......................................................... ۸۸
د اردن په پلازمینه عمان کې د جوړ شوي .............................................. ۸۹
نړیوال اسلامي کنفرانس بیانیه ............................................................ ۸۹
د اردن په پلازمینه عمان کې د نړیوال اسلامي کنفرانس بیانیه .................... ۹۲
د کتاب د پای خبره ....................................................................... ۱۳۹